# JAG RÖSTAR!

FÖR DEMOKRATIN

# پښتو

NBV

## دلته پیل وکړئ!

"زه رایه ورکوم "د NBV لخوا د دموکراسی د زدهکړې مواد دي. موږ د ټولو انسانانو په مساوي ارزښت باور لرو، نو دا مهمه ده چې ټول درک وکړو چې څه د یوې روغې او فعاله دموکراسی بنسټ جوړوي. یو بنسټیز اصل دا دی چې عامي ټاکني ترسره شي، چیرې چې هر څوک د رایې حق لري او د هېواد د راتلونکي په جوړولو کې برخه اخلي. همدارنګه، واک باید د بشري حقونو په درناوي سره وکارول شي، څو هېڅ څوک یا ډلګی ډله له تبعیض او بد چلند سره مخ نه شي.

په یوه ژوندۍ دموکراسي کې، درناوی لرونکي خبرې اترې ډېر مهم رول لري. هېڅوک باید د خپلو نظرونو د توپیر له امله سزا نه شي. په دموکراسي کې خلک د یو بل نظرونه اوري او ازاد دي چې خپل فکر څرګند کړي. خبرې اترې، بحث او انتقادي تفکر د دموکراسی د ژوند هوا ده.

په دې موادو کې به تاسو د دموکراسی د لویې لاسته راوړني او ننګوني وپېژنئ. وړاندیز دا دی چې له فصل «د دموکراسی نقشه» پیل وکړئ، څو درک وکړئ چې کوم ارزښتونه یو دموکراتیک ټولنه جوړوي. وروسته ډله پریکړه کولی شي چې څنګه او په کوم ترتیب له موادو ګټه واخلي.

## د نورو فصلونو لنډه پېژندنه:

**د دموکراسی زیانپذیرتیا :**دموکراسي نازکه ده. نن ورځ په بېلابېلو هېوادونو کې د خطر زنګونه وهل کېږي، لکه د خلکو د ازادیو او حقونو محدودول او د رسنیو پر باور د اغېزمنتیا کمېدل. دموکراسي څومره زیانپذیره ده او موږ د ضد دموکراتیکو ځواکونو پر وړاندې څومره چمتو یو؟

**د معلوماتو حبابونه او جعلي خبرونه :**نوی رسنیز چاپېریال څنګه دموکراسي اغېزمنوي؟ موږ څنګه کولی شو د سرچینو په ارزونه کې لا ښه شو؟

**خپل ځان د دموکراسی لپاره چمتو کړئ :**یو فرد څه کولی شي چې د دموکراسی ملاتړ وکړي؟ ولسي زدهکړه او د مطالعې کړۍ د خلکو د ځواکمنېدو پیاوړي وسایل دي.

**د ټاکنو ورځې ته چمتوالی :**زه باید چا ته رایه ورکړم او څنګه؟ دا فصل د ټاکنو د ورځې د عملي جریان او د پارلمان د ګوندونو د ویبپاڼو د لینکونو لارښوونه وړاندې کوي.

**په نړۍ کې د دموکراسی کمېدل :**نن ورځ ډېر خلک په هغو هېوادونو کې ژوند کوي چې له دموکراسی څخه لرې کېږي. خو دموکراسي څه ده او یو هېواد باید کومې ځانګړتیاوې ولري چې دموکراتیک وبلل شي؟

**د راتلونکي ټولني پر لور:**موږ څنګه ټولنه غواړو؟ ارزښتونه او د انسان په اړه زموږ لید ټاکي چې موږ کوم ګوند ته رایه ورکوو. څنګه کولای شو په سیاسي ډګر کې ځان ومومو چې له دودیزې ښۍ او کیڼي وېش څخه هاخوا تللی دی؟

NBVهیله لري چې تاسو به د دې موادو له مطالعې او ډلهییزو خبرو وروسته د ټاکنو پر ورځ د سمي پرېکړې لپاره چمتو احساس وکړئ. له خپل ژمنتیا او غږ څخه کار واخلئ . د یوې داسي دموکراتیکي ټولني لپاره چې پکې د ټولو انسانانو مساوي ارزښت خوندي وي!

## د مطالعي کړی (Studiecirkel)

د مطالعي کړۍ یو ډیموکراتیک زدهکړیز شکل دی، چیرې چې ګډونوال په ګډه د یو موضوع په اړه زدهکړه کوي چې ورسره علاقه لري. د ګډو بحثونو او انعکاس له لارې د ډلي ګډه پوهه لوړېږي. د مطالعي لارښود (studiehandledning) هدف لري چې بحث او خبرې اترې وهڅوي، نه دا چې ټول ځوابونه وړاندې کړي. دلته هېڅ ثابت "سم یا غلط" نشته . یوازې د پوښتنو وړاندیزونه .البته تاسو کولی شئ خپلې پوښتنې هم وټاکئ.

دا مواد پر شپږ غونډو ولاړ دي، خو کولای شئ د خپلې اړتیا له مخې دا کم یا زیاتو غونډو ته تقسیم کړئ.

## د مطالعې کړۍ د يوې رسمي کړۍ په توګه پېژندل کېدو لپاره:

- لږ تر لږه درې او زيات تر شلو ګډونوال ولری، او هر ګډونوال بايد په لږ تر لږه درې غونډو کې برخه واخلي، او د لومړنيو درې غونډو له يوې سره حاضري ولري.
- په اونۍ کې يو تر درې ځله سره وګورئ (يا که وغواړئ، مياشت کې يو ځل).
- هره غونډه بايد يو تر څلور درسي ساعتونو دوام وکړي (يو درسي ساعت = ۴۵ دقيقې).
- لږ تر لږه درې غونډې ترسره کړئ او ټولټال لږ تر لږه ۹ درسي ساعتونه کار وکړئ.

د بريالی غونډې لپاره دا ټکي په پام کې ونيسئ:

- د تېرې غونډې لنډه بياکتنه وکړئ.
- هغه پوښتنې يا نظرونه شريک کړئ چې د غونډو ترمنځ پيدا شوي وي.
- پرېکړه وکړئ چې نن کوم کار کوئ.

2

- غونډه د لنډې ارزونې او د راتلونکې غونډې د پلان له لارې پای ته ورسوئ.
- غواړئ نور ټکي هم زيات کړئ؟

له نږدې NBV دفتر سره اړيکه ونيسئ څو مرسته درسره وکړي.
نږدې دفتر د لاندې وېبپاڼې له لارې پيدا کړئ:
www.nbv.se

## د دموکراسی نقشه

کله چې خلک يو ځای ژوند کوي، اړينه ده چې يو ځای پرېکړه وکړي چې څنګه به خپل تنظيم جوړوي او څنګه به پرېکړې کوي. دا خبره په کورنۍ، ټولنه، او تر ټولو زيات په هېواد کې صدق کوي. دموکراسي د خلکو د ګډون او هڅو له لارې وده کړې او بنه شوې ده.

په سويډن کې موږ پرېکړه کړې چې يو ډيموکراتيک نظام ولرو، چېرې چې هر څوک د عمومي ټاکنو حق لري او يوه مساوي رايه ورکوي پرته له دې چې جنس، شتمنې يا کورنۍ شاليد څه وي. موږ همدارنګه د پارلمان (Riksdag) لرلو پرېکړه کړې چې له سياسي ګوندونو جوړ دی؛ د پارلمان غړي د خلکو استازيتوب کوي. د ډيموکراسی برخه کېدل موږ ته دا توان راکوي چې د ټولنې پر جوړښت اغېز وکړو. د خپلې رايې له لارې موږ ټاکو چې څوک د هېواد مشري کوي.

د دموکراسی بنسټونه د سويډن د اساسي قوانينو (grundlagar) له لارې خوندي شوي دي. دا قوانين د ټولو نورو قوانينو بنسټ جوړوي له ښوونځي او ماشومپالنې څخه تر عدلي نظام او ټولنيزو خدمتونو پورې.

## د بشري حقونو اعلاميه

په ۱۹۴۸ کال کې، د ملګرو ملتونو سازمان (FN) د بشري حقونو نړيواله اعلاميه ومنله، چې پکې ويل شوي:

- ټول انسانان ازاد او د ارزښت او حقونو له پلوه برابر زېږي.
- هر څوک د نظر او څرګندونې ازادي لري.
- هر څوک د خپل هېواد د حکومت په چارو کې د ګډون حق لري، په مستقيم ډول يا د آزادو استازو له لارې.

دموکراسي او بشري حقونه یو له بله نه بېلېدونکي دي. ډېری بشري حقونه د دموکراسۍ د سم کار لپاره ضروري دي. د بېلګې په توګه، د زده‌کړې حق خلکو ته دا وړتیا ورکوي چې د خپلو حقونو څخه دفاع وکړي. د لوستلو او معلوماتو ته لاسرسی د سیاسي پوهاوي کچه لوړه وي او د ګډون زمینه برابروي. د بشري حقونو د اعلامیې له مخې:« هر څوک حق لري چې د ټولنې په کلتوري ژوند کې په ازاد ډول ګډون وکړي، له هنر خوند واخلي او د علم له پرمختګونو او ګټو څخه استفاده وکړي».

په ۲۰۱۵ کال کې، د نړۍ د هېوادونو مشرانو نړیواله د پرمختګ اجنډا ، اجنډا ۲۰۳۰ ومنله. د دې اجنډا اساسي موخې دا دي :فقر له منځه وړل، بې‌عدالتي او نابرابري راکمول، په ځمکه د سولې ټینګول، اود اقلیم د بدلون بحران حل کول.

## د دموکراسۍ ارزښتونه

په یو ډیموکراتیک نظام کې موږ حق لرو چې د خپلو منتخب استازو، د هېواد د اداره کولو طریقې او د اقتصادي او ټولنیز نظام په اړه انتقادي نظر ښرګند کړو.له د بیان له ازادۍ سره یو ځای ځینې مسوولیتونه هم راځي. دا جایز نه ده چې څوک توهین یا بدنام شي، او د یوې ډلې پر ضد د کرکې پارول قانوني جرم دی. د بیان ازادي دا معنا نه لري چې څوک به له مخالفت څخه خوندي وي. هغه څوک چې خپل نظر څرګندوي باید چمتو وي چې خپله هم له انتقاد سره مخ شي.

ډیموکراتیک ټولنه پر ډیموکراتیکو ارزښتونو ولاړه ده. موږ د بیان ازادي، زغم، برابري، د واک وېش او د قانون مخې ته مساوات خوندي کوو.دا چې د بېلابېلو خلکو غږونه واورېدل شي، د ډیموکراسۍ یو مهم اصل دی.

د یو ډیموکراتیک هېواد د وګړي په توګه، موږ کولای شو په ډیموکراتیک بهیر کې برخه واخلو. دا معنا لري چې موږ د بېلابېلو ګوندونو په اړه معلومات ترلاسه کولی شو، له خپلو استازو پوښتنې او انتقاد کولی شو، په سیاسي ګوندونو کې ګډون کولی شو، او په عامو ټاکنو کې رایه ورکړو.

## پریکړې چیرته کیږي؟

کله چې موږ په د ښاروالۍ ټاکنو (kommunalval) کې رایه ورکوو، موږ ته دا فرصت راکول کیږي چې د هغو موضوعاتو په اړه پرېکړه وکړو چې زموږ د ورځني ژوند سره نږدې دي. پریکړې د ښوونځي، وړکتونونو او ورزشي تالارونو په اړه د ښاروالۍ شورا (kommunfullmäktige) له خوا کیږي چې د ښار تر ټولو لوړه پریکړه کوونکې اداره ده. ګوندونه په دې اړه بېلابېل نظرونه لري چې څومره بودجه باید د بېلګې په توګه د وړکتون د کارکوونکو لپاره ولګول شي یا د زړو خلکو د استوګنځایونو د جوړولو لپاره.
د ښاروالۍ ټاکنې هر څلور کاله وروسته ترسره کیږي، هممهاله د پارلمان او سیمه‌ییزو شوراګانو له ټاکنو سره.

## د ښار د اداري طرز(kommun)

پارلمان (Riksdagen) د سویډن تر ټولو لوړه پریکړه کوونکې اداره ده او د خلکو استازیتوب کوي. کله چې رایه ورکوونکي د پارلمان غړي ټاکي، پارلمان لومړی وزیر ټاکي، او هغه بیا حکومت (regeringen) جوړوي. حکومت باید د پارلمان منل شوی وي، که نه نو اړ کیږي چې استعفا ورکړي. ۳۴۹ غړي د دې مسوولیت لري چې د حکومت کارونه څارې.

پارلمان پرېکړه کوي چې د دولت پیسې څنګه وویشل شي. د پارلمان له مهمو دندو څخه یوه د قانون جوړونه ده.هغه پرېکړې چې پارلمان کوي، په ټوله سویډن کې عملي کیږي. پارلمان د دولت سره یو ځای د بهرنۍ پالیسۍ د جوړولو مسوولیت هم لري.

د پارلمان غړي زيات وخت د رايه ورکوونکو، شرکتونو او سازمانونو سره د ليدو لپاره ځانګړي کوي.
ډېرې لارې شته چې له خپلو استازو سره اړیکه ونیسو او خپلې نظريې او وړاندیزونه ورسره شريک کړو.

## پارلمان او د اروپايي ټولنې رول

نن ډېرې مهمې سياسي موضوعګانې يوازې په ملي کچه نه شي حل کېداى. د بېلګې په توګه، د اقليم بدلون (د ځمکې تودوخه) د نړۍ ټول خلک اغېزمنوي. د چاپېرﯾال او اقليم موضوعګانې هغه برخې دي چې اروپايي ټولنه (EU) پکې مهم رول لري. کله چې سويډن په ۱۹۹۵ کال کې د اروپايي ټولنې غړی شو، دا يې ومنله چې د EU قوانينو (EU-rätten) اطاعت وکړي. دا معنا لري چې هغه قوانين چې د ټولې اتحاديې له خوا جوړېږي، عموماً د ملي قوانينو نه پورته حيثيت لري. هغه پرېکړې چې د اروپايي ټولنې په کچه کېږي، زموږ په ورځني ژوند مستقيم اغېز لري. د Sveriges Kommuner och Regioner (SKR) د محاسبې له مخې، شاوخوا ۶۰ سلنه هغه موضوعګانې چې د ښاروونو او سيمو په شوراګانو کې بحث کېږي، د اروپايي ټولنې له پرېکړو اغېزمنېږي.

د اروپايي پارلمان (Europaparlamentet) ټاکنې هر پنځه کاله وروسته ترسره کېږي.

د اروپايي پارلمان

## د بحث پوښتنې

هغه پوښتنې وټاکئ چې غواړئ په ګډه پرې بحث وکړئ.

ډيموکراسي څه ده؟
په انټرنېټ او بېلابېلو مراجعو کې لټون وکړئ ترڅو ومومئ چې د «ډيموکراسي» کلمه څنګه تعريف شوې ده.
بحث وکړئ: د ډيموکراسۍ معنا ستاسو لپاره څه ده؟

ډيموکراسي څنګه عملي کېږي؟
د بېلابېلو حالاتو مثالونه ورکړئ چې پکې تاسو ډيموکراسي تجربه کړې ده.
د بېلګې په توګه، ستاسو په کورنۍ کې پرېکړې څنګه کېږي؟ په هغه ټولنه يا سازمان کې چې غړی ياست څنګه؟
تاسو څنګه کولای شئ خپل غږ پورته کړئ؟

ستاسو رول په ډيموکراسي کې څه دی؟
ايا تاسو کومې وجايب (مسووليتونه) او حقوق لرئ؟ دا څنګه ترسره او له خپلو حقونو څنګه ګټه اخلئ؟

ستاسو استازيتوب څوک کوي؟
په ښاروالۍ، سيمه، پارلمان (Riksdagen) او اروپايي ټولنه (EU) کې څوک ستاسو استازيتوب کوي؟
پيدا کړئ چې څوک په پارلمان، اروپايي پارلمان، ښاروالۍ شورا او سيمه‌ييزه شورا کې ناست دي.

د بشري حقونو اعلاميه ولولئ.
يو حق غوره کړئ چې ستاسو په نظر ډېر مهم يا په زړه پورې دی، او بيا پرې بحث وکړئ.
https://www.amnesty.se/vara-rattighetsfragor/vad-ar-manskliga-rattigheter/fns-deklaration-om-de-manskliga-rattigheterna/

د خبریالانو بېسرحده سازمان (Reportrar Utan Gränser) هر کال د د مطبوعاتو د ازادۍ شاخص (pressfrihetsindex)خپروي، چې پکې د نړۍ د مطبوعاتو د ازادۍ وضعیت ښودل کېږي.په دې شاخص کې ۱۸۰ هېوادونه او سیمې د خبریالانو او رسنیو د ازادۍ له مخې درجې بندي کېږي.

بحث وکړئ:
د مطبوعاتو ازادي او ډیموکراسي څنګه له یو بل سره تړاو لري؟
https://www.reportrarutangranser.se/pressfrihetsindex/

په هغه هېواد کې ژوند کول څنګه وي چې ډیموکراسي پکې نیمګړې وي؟
هغه فلم وګورئ چې پکې بېلابېل خلک خپلې تجربې بیانوي.

په ګډه بحث وکړئ:

- د خلکو کیسې څنګه د ډیموکراسۍ د نشتوالي یا کمزورۍ ښکارندوی دي؟
- ستاسو لپاره دا څومره مهمه ده چې په یوه ډیموکراتیک هېواد کې ژوند وکړئ؟

Levande Historia: Demokratins grunder
په نړۍ کې د ډیموکراسۍ حالت څنګه دی؟
د لاندې دوو ویبپاڼو لیدنه وکړئ:

**Europaportalen**

## د ډیموکراسۍ شاخص(Democracy Index)

https://ourworldindata.org/grapher/democracy-index-eiu

کله چې ته دې نقشو ته ګورې، ستا ذهن ته څه راځي؟

## د لا زیات لوستلو لپاره وړاندیزونه

د پارلمان لومړۍ ښځې مقاله په مجله Populär Historia کې:

https://popularhistoria.se/politik/kvinnokamp/forsta-kvinnorna-i-riksdagen

ښځو ته په سویډن کې د رایې ورکولو حق ورکړل شو(8 sidor)

https://8sidor.se/alla-valjare/2021/09/kvinnor-i-sverige-fick-rosta/

## د څلورو کونجونو تمرین(Fyra-hörn-övningar)

دا تمرین، چې څلور کونجونه نومېږي، د نظر څرګندولو او د انتخاب د کولو لپاره جوړ شوی دی. په مثالونو کې څلور انتخابونه شته، او هر انتخاب د خونې له یو کونج سره تړاو لري. ګډونوال دې په هغه کونج کې ودرېږي چې د هغوی د نظر سره تر ټولو زیات سمون لري.کله چې هر څوک خپل ځای وټاکي، د هر کونج کسان دې یو له بله سره د خپل انتخاب دلیلونه شریک کړي.وروسته دې هرې ډلې خپل نظر د ټولو ګډونوالو سره شریک کړي.

## پوښتنه ۱: په ډیموکراسي کې تر ټولو مهم څه دي؟

•د خپل نظر د څرګندولو حق
•د هرې ټولنې یا سازمان د غړیتوب حق
•د عامو ټاکنو کې د رایې ورکولو حق
•بل انتخاب (ستاسو خپل نظر)

## پوښتنه ۲: د ډیموکراسۍ او بشري حقونو مسوول څوک دی؟

•دولت – اداري، سیمې او ښاروالۍ
•ملګري ملتونه (FN) او نور نړیوال سازمانونه
•ولسي خوځښتونه، سازمانونه – زه او ته د غړو په توګه
•بل انتخاب (ستاسو خپل نظر)

## د ډیموکراسۍ زیانپذیرتیا(Demokratins sårbarhet)

د «ډیموکراسي» کلمه د د خلکو حاکمیت معنا لري. دا معنا نه لري چې د سویډن ټول اوسېدونکي په هره پرېکړه کې مستقیم ګډون لري. موږ د استازو ډیموکراسي (representativ demokrati) لرو، چې پکې خلک خپلې استازې د ښاروالۍ، سیمې، پارلمان او اروپایي پارلمان ته ټاکي. په یوه اساسي قانون کې چې د حکومت قانون (Regeringsformen)نومېږي، راغلي: « په سویډن کې ټول عام واک له خلکو سرچینه اخلي».

دغه قانون تشریح کوي چې هېواد څنګه اداره کېږي او کومې ډیموکراتیکې حقونه د خلکو لپاره خوندي دي.

## رایه ورکول ، د مسوولیت منل

زموږ ډیموکراسي پر دې ولاړه ده چې خلک د عامو ټاکنو له لارې د ټولنې د چارو مسوولیت واخلي. د سیاسي نظام د سم کار لپاره اړینه ده چې ګوندونه بېلابېل نظرونه ولري. کله چې موږ رایه ورکوو، هغه ګوند ټاکو چې زموږ له ارزښتونو سره تر ټولو نژدې وي. موږ هم دا مسوولیت لرو چې هغه ګوند ته رایه ورکړو چې د ډیموکراسۍ ارزښتونه خوندي کوي. یو سل کاله مخکې، ډېرو خلکو په سویډن کې د برابر رایو، د ټولنیزې هوساینې او د عادلانه عدلي نظام لپاره مبارزه وکړه. نن موږ په ډیموکراسي کې ژوند کوو او ډېری خلک د یو بنسټیز امنیت احساس لري. خو دا اسانه ده چې فکر وکړو دا حالت به تل همداسې وي. هر یو باید د ډیموکراسۍ د ساتلو او ژوندی ساتلو لپاره خپله ونډه واخلو.

## لوړي – او ټيټي – واټنونه

نن ورځ د رایه ورکوونکو او منتخب سیاستوالو ترمنځ واټن زیات شوی دی. دا ځکه ښکاري چې لږ خلک اوس د سیاسي ګوندونو غړیتوب لري. که له ۶۰ کاله مخکې سره پرتله وکړو، اوس د سویډن ډېر لږ خلک په ښاروالیو کې سیاسي دندې لري. په ۱۹۵۲ کال کې شاوخوا ۲۰۰٬۰۰۰ کسانو په ښاروالیو کې سیاسي رول درلود، خو نن یوازې شاوخوا ۳۸٬۰۰۰ کسان پاتې دي. دا معنا لري چې ډېری خلک نور سیاستوال نه پېژني.

په عین وخت کې، نن ورځ د معلوماتو ترلاسه کول ډېر اسانه شوي. موږ کولای شو له د ښاروالی وېبپاڼي یا نړیوالو خبرونو څخه خبر شو.حتی دا ممکنه ده چې یو وزیر یا د اروپایي پارلمان غړی په انستاګرام تعقیب کړو یا د فیسبوک ملګری یې شو.اوس د خلکو لپاره نوي لارې شته چې له د واک لرونکو کسانو سره اړیکه ونیسي، پوښتنې وکړي او خپل نظرونه وړاندې کړي.

## د بېلابېلو شیانو په اړه اندېښنه

د ډېرو نورو هېوادونو په پرتله، سویډن یو بډای هېواد دی چې اوسېدونکي یې کولی شي خوندي او ارام ژوند ولري. خو په عین وخت کې، ځینې سویډنیان باور لري چې د ټولنې پرمختګ سم لور ته نه ځي او له ځانه پوښتنه کوي: « سویډن چېرې روان دی؟» په ځانګړې ډول، د وروستیو کلونو نړیوالو پېښو د خلکو اندېښنې او د راتلونکې په اړه نا‌امنی زیاتې کړې دي.

څېړنې ښيي چې د خلکو ټولې اندېښنې په وروستیو کلونو کې نه دي زیاتې شوې، خو اندېښنې د نړۍ د پېښو سره تړلې دي. د بېلګې په توګه، د اوکراین پر وړاندې د روسیې د یرغل پر مهال د خلکو اندېښنه زیاته شوه، ځکه هغوی د دې اغېزونو په اړه اندېښمن شول. بل مثال د غزې جګړه ده. ډېری سویډنیان ریښې په هغو هېوادونو کې لري چې له جګړو او شخړو سره مخ دي، او دا د هغوی په احساساتو او اندېښنو اغېز کوي.

څېړنې ښيي چې د ټولنې بېلابېلې ډلې د بېلابېلو شیانو په اړه اندېښنه لري.هغه کسان چې ټیټه زده‌کړه لري، زیاتره د منظم جرمونو، د ټولنیزې هوساینې د خرابېدو او د کډوالو د زیاتېدو له امله اندېښمن دي.خو هغه کسان چې لوړه زده‌کړه لري، زیاتره د سیاسي افراطګرای، د ډیموکراسۍ د کمزورۍ او د اقلیمي بدلون له امله اندېښمن دي.

په هغو سیمو کې چې اقتصادي او ټولنیزې ستونزې لري، د هغو خلکو شمېر چې د جرم ښکار کېدو څخه وېرېږي، د ښه حالت لرونکو سیمو په پرتله نږدې دوه چنده زیات دی.

ډېری وګړي تمه لري چې سیاستوال دې د خلکو د اندېښنو موضوعات په جدي ډول تعقیب کړي او حللارې پیدا کړي. خو ځینې خلک داسې احساس کوي چې د دوی غږ نه اورېدل کېږي. دا احساس کولی شي د هغوی په ډیموکراسۍ باور کم کړي، څو داسې فکر وکړي: « فرقی نه کوي چې رایه ورکړم که نه، سیاستوال زموږ خبرې نه اوري چې دلته ژوند کوو.»

## باور (اعتماد) – د ډیموکراسۍ لپاره مهم بنسټ

دا چې خلک یو پر بل باور ولري، د یوې روغې ټولنې د سم کار لپاره ډېر مهم دی. باور ته کولای شو د یو غوړونکي تېلو مثال ورکړو چې د خلکو ترمنځ پرېکړې او همکارۍ اسانه کوي. څېړنې ښيي چې په هغو هېوادونو کې چې د خلکو ترمنځ باور لوړ وي، هلته ډیموکراسي باثباته وي، او فساد او جرمونه لږ وي.

په سویډن او د شمالي اروپا په نورو هېوادونو کې، ډېری وګړي وایي چې دوی په عمومي ډول پر نورو باور لري. په سویډن کې دا باور لا هم لوړ دی. خو څېړنې ښيي چې د باور کچه په بېلابېلو ټولنیزو ډلو کې توپیر لري. په ځینو ډلو کې دا باور په وروستیو کلونو کې راټیټ شوی دی، لکه د بېروزګارانو، د ناروغۍ یا د فعالیت د مرستې اخیستونکو، او د هغو کسانو ترمنځ چې ځانونه د خرابې روغتیا لرونکي ګڼي.

په هغو ټولنو کې چې اقتصادي نابرابري او ټولنیز توپیرونه زیات وي، د خلکو ترمنځ باور هم کم وي. په داسې ناامنه چاپېریال کې چې خلک یو پر بل باور نه شي کولی، ټولنیز اعتماد هم راټیټېږي.

ځېرني دا هم ښيي چې د باور کچه د ځینو ډلو ترمنځ له منځنۍ کچې ټیټه ده.هغه کسان چې د سویډن دیموکرات ګوند (Sverigedemokraterna)ملاتړ کوي، باور یې نسبتاً ټیټ دی. همدارنګه، د هغو رایه ورکوونکو ترمنځ چې ځان د عامو پارلماني ګوندونو برخه نه ګڼي یا له کوم ګوند سره ځان نژدې نه احساسوي، باور هم ټیټ دی.

که په یو هېواد کې د باور کچه په پراخه توګه راټیټه شي، ډیموکراسي هم بېثباته کېدای شي.

## د ډیموکراسی په ګډون کې خنډونه

په ټولنه کې ځینې ډلې ښایي د ډیموکراسی په بشپړ ګډون کې له خنډونو سره مخ وي. دا خنډونه کېدای شي د ژبې ستونزې، د استازیتوب کمښت، د کار په بازار کې تبعیض، یا د ټاکنو او سیاست په اړه د معلوماتو محدود خپرېدل وي.

بېبرخي کول یا له ټولنې شړل تل د قصد له مخې نه وي. ډېری وخت دا ځکه وي چې د ټولنې جوړښتونه د یوې "نورمالي انځور "پر بنسټ جوړ شوي وي، چې ټول خلک پکې نه راځي. د بېلګې په توګه، هغه کسان چې د بهرني اصلیت، فزیکي یا ذهني ناتوانی، یا کم اقتصادي حالت لري، ښایي احساس وکړي چې په ډیموکراتیکو خبرو اترو کې دوی ته غوږ نه نیول کېږي.

د لا زیات معلوماتو لپاره وګورئ:
"ډیموکراسي په سویډني ژبه؟ د جوړښتي تبعیض او سیاسي ګډون په اړه(SOU 2005:112) "
[https://www.regeringen.se/rattsliga-dokument/statens-offentliga-utredningar/2005/12/sou-2005112/](https://www.regeringen.se/rattsliga-dokument/statens-offentliga-utredningar/2005/12/sou-2005112/)

## د اړیکو د لیدلو تمرین

آزادي او عامي ټاکني لا هم د نړۍ د ډېرو خلکو لپاره یو خوب دی. په عین وخت کې، په ډېرو هېوادونو کې لیدل کېږي چې ډیموکراسي کمزورې کېږي. په ځینو هېوادونو کې قوانین بدل شوي تر څو حکومتونه وکولی شي پر رسنیو او قضایي نظام زیات کنټرول ولري. خو خپلواکې رسنۍ او بېطرفه عدلي نظام د یوې ډیموکراتیکې ټولنې بنسټونه جوړوي.

زموږ د وګړو دنده د یو هېواد د وګړي په توګه، موږ باید د ټولنې په وړاندې مسوولیت واخلو او پوهاوی او معلومات ترلاسه کړو.موږ ته پکار ده چې انتقادي تفکر زده کړو ، یعني داسې فکر وکړو، وڅېړو او پوښتنې وکړو، نه دا چې هر هغه څوک ومنو چې تر ټولو لوړ غږ کوي یا زموږ له ویرې او اندېښنې ګټه اخلي.

کله چې د بېلابېلو نظرونو له لارې موضوع ته وګورو او اړیکې درک کړو، موږ کولای شو نور خلک ښه وپېژنو او باور (اعتماد) منځ ته راوړو.دا مهمه ده چې یو بل واورو، د خپلې نوبت انتظار وباسو، هر چا ته د خبرو موقع ورکړو، او بیا د پوهې پر بنسټ پرېکړه وکړو. ډیموکراسي هغه څه نه ده چې یوازې د ټاکنو په ورځ ترسره شي ، دا باید هره ورځ وساتل شي او پیاوړې شي.

## د معلوماتو بکس

### حقیقت: بنسټیزې ازادۍ او حقونه

د سویډن ډیموکراتیک نظام موږ ته څو بنسټیز ازادۍ او حقونه تضمینوي، لکه:

- د معلوماتو ازادي :دا چې هر څوک کولای شي معلومات ترلاسه کړي او واوري.
- د غونډو ازادي :دا چې خلک کولای شي د معلوماتو، نظر څرګندونې یا هنري موخو لپاره غونډې جوړې کړي یا ګډون پکې وکړي.
- د مظاهرو ازادي :دا چې خلک کولای شي په عامه ځایونو کې مظاهرې وکړي او ګډون پکې وکړي.

- د اتحادیې یا سازمان جوړولو ازادي :دا چې خلک کولای شي له یو بل سره یو ځای شي او سازمان جوړ کړي.
- د مذهب ازادي :دا چې هر څوک کولای شي یوازې یا له نورو سره یو ځای خپل مذهب ترسره کړي.
- د بیان ازادي :دا چې خلک کولای شي خپلې اندې او احساسات څرګند کړي.

د لا زیات معلوماتو لپاره وګورئ:
Läs mer i "Så styrs Sverige" demokratiska systemet ger oss ett antal grundläggande fri- och rättigheter. Exempelvis dessa:

**. د بیان ازادي :**د افکارو، نظرونو او احساساتو د څرګندولو ازادي.

## د معلوماتو بکس : حقیقت: آزادې او عامې ټاکنې

**عام حق د رایې ورکولو :**ټول هغه خلک چې ۱۸ کلن یا زیات عمر لري او د سویډن اوسېدونکي دي، د پارلماني ټاکنو د رایې ورکولو حق لري. په ښاروالیو او سیمو (region) ټاکنو کې حتی هغه کسان هم رایه ورکولی شي چې د سویډن تابعیت نه لري، خو په هماغه سیمه کې را جستر (folkbokförda) وي.

**د رایې برابري :**هر رایه ورکوونکی یو شان اغېز لري – هر څوک یوازې یوه رایه ورکوي.

**آزادې ټاکنې :**هېڅ څوک حق نه لري د بل چا پر ځای پرېکړه وکړي چې هغه باید چا ته رایه ورکړي.

**پټې ټاکنې :**رایه ورکوونکی اړ نه دی چې وښيي یا ووايي چې چا ته يې رایه ورکړې ده. د خلکو سیاسي نظرونه بې له رضایت څخه ثبتول قانوناً منع دي.

## حقیقت / معلومات :د جګړې انتقاد کول منع دي.

مخکې چې روسیې په ۲۰۲۲ کال کې په اوکراین بشپړ یرغل پیل کړي، د بیان او مطبوعاتو ازادي هلته لا له پخوا محدوده وه. خپلواکې رسنۍ او مخالف سیاستوال په بېلابېلو لارو ځپل کېدل. د جګړې له پیل وروسته، د روسیې د خلکو ډیموکراتیک حقونه لا کمزوري شول. د روسیې حکومت خپلو وګړو ته د اوکراین د یرغل پر ضد د مظاهرو کولو اجازه نه ورکوي. هر څوک چې له جګړې سره مخالفت وکړي، ښايي د بدنامۍ، درغلي یا ترهګرۍ په تور محاکمه شي. په مارچ ۲۰۲۲ کې یو نوی قانون تصویب شو چې د روسي پوځ "بدنامه کول" جرم وبلل شو. د قانون له مخې، مجازات تر ۱۰ کالو بند ده یا ۱۵ کاله که خبره "جدي پایلې" ولري. دا قانون وروسته پراخ شو او د "درواغجنو خبرونو خپرول "هم پکې منع شول، که دا د روسي چارواکو بهرني کړنې پورې تړاو ولري. د مارچ په ۱۶مه، ورونیکا بیلوتسرکوفسکایا (Veronika Belotserkovskaja)، چې د خوراک بلاګر ده او ۸۵۰ زره تعقیب کوونکي لري، لومړنۍ څوک وه چې د دې قانون له مخې تورنه شوه. هغې ته دا تور ولګېد چې د اوکراین د ښارونو د ورانولو او د ملکي خلکو، په ځانګړي ډول د ماشومانو، د وژلو په اړه دروغ معلومات خپاره کړي.

له ۲۰۲۲ کال د پسرلي راهیسې، انستاګرام، ټویټر او فیسبوک په ټوله روسیه کې بند شوي. روسي چارواکي یوازې سوله‌ییز اعتراضونه نه ځپي، بلکې هڅه کوي چې خلک د دغو اعتراضونو په اړه معلومات و نه لري.
خپلواکو خبریالانو ته د راپور ورکولو اجازه نه ورکول کېږي.

منبع Amnesty International

## د غزې د رسنیو محاصره

د غزې د جګړې په ترڅ کې، د خبر یالانو بېسرحده سازمان (Reportrar utan gränser) خبرداری ورکړی چې اسرائیلي چارواکي د معلوماتو د کنټرول هڅه کوي او بهرني خبریالان غزې ته نه پرېږدي. په ۲۰ میاشتو کې، نږدې ۲۰۰ فلسطیني خبریالان وژل شوي، چې لږ تر لږه ۴۵ یې د خپل کار له امله. د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې، د یو خبریال وژل د جګړې جنایت ګڼل کېږي. هغه فلسطیني خبریالان چې لا هم راپوروونه ورکوي، د جبري بېځایه‌کېدو، لوږې او د ژوند د دوامداره ګواښونو سره مخ دي.

« دا یوه منظمه هڅه ده چې حقایق چوپ کړي، رښتیا پټې کړي، او د فلسطیني رسنیو او خلکو غږ منزوي کړي».
د خبریالانو بېسرحده سازمان بیان.

https://www.reportrarutangranser.se/oppna-gaza-for-journalister-kraver-rsf-cpj-och-over-200-internationella-medieaktorer/

## بند شوي کتابونه

په ډېرو هېوادونو کې ازاده کلتوري فضا او د هغې لاسرسي ته ګواښونه متوجه دي. یو مثال یې کتابونه دي چې د فکرونو او نظریو د خپرولو مهم وسیله ده. له دې سره چې د استبدادي حکومتونو نفوذ زیات شوی، کتابونه بندېږي او سانسور کېږي، حتی په هغو ټولنو کې چې پخوا ازادې ګڼل کېدې. د یو کتاب بندېدل معنا لري چې هغه نشي خپرېدلای، نه شي پلورل کېدای، یا له ښوونځیو او کتابتونونو لرې کېږي. په امریکا کې د ۲۰۲۳/۲۰۲۴ د تعلیمي کال پر مهال ۱۰٬۰۴۶ کتابونه بند شول. په هنګري کې له ۲۰۲۱ راهیسې یو قانون شته چې د ۱۸ کلونو څخه کم عمره ماشومانو ته د hbtq اړوند محتویاتو لرونکي کتابونه منع کوي.

هغه بنسټونه چې د کتابونو د بندېدو غوښتنه کوي، کېدای شي دولت، پولیس، د والدینو ټولنې یا مذهبي ډلې وي. عام دلیلونه دا دي چې کتابونه د hbtq موضوعات لري، د ټولنې پر ضد نیوکه کوي، یا د مذهبي باورونو مخالف وي.

منبع.*Svenska PEN* :
PEN International یوه نړیواله ټولنه ده چې د لیکوالانو د بیان ازادۍ لپاره کار کوي.

## د بحث پوښتنې

ایا تاسو د کومې ټولنیزې موضوع سره علاقه یا فعالیت لرئ؟ لکه د نشه‌یي موادو، د ښځو او نارینه‌وو د برابرۍ، د چاپېریال، یا د خپل استوګنځای د امنیت په اړه؟ خپل فعالیت تشریح کړئ. څنګه کولای شئ نور هم تشویق کړئ چې ګډون وکړي؟ څنګه کولای شئ پر چارواکو اغېز وکړئ؟

په سویډن کې موږ عام د رایې ورکولو حق لرو. په ډېرو نورو هېوادونو کې د سویډن په څېر دومره خلک رایه نه ورکوي. په ۲۰۲۲ ټاکنو کې ۸۴٫۲٪ خلکو ګډون وکړ. تر ټولو لوړ ګډون په ۱۹۷۶ کال کې و – ۹۱٫۸٪. په امریکا کې دا شمېر یوازې ۶۴٪ و. که لږ خلک رایه ورکړي، ستاسو په اند څه پېښېدای شي؟

د ټولنې د بېلابېلو ډلو ترمنځ د رایې ورکولو توپیرونه شته. مثلاً بېروزګاران، لږ زده‌کړه لرونکي او بهرني الاصله خلک لږ رایه ورکوي. ستاسو په اند ولې داسې ده؟ ولې څوک رایه نه ورکوي؟

ستاسو د رایې ورکولو تر ټولو قوي دلیلونه کوم دي؟ که له چا سره مخ شئ چې نه غواړي رایه ورکړي، تاسو به څه ورته ووایئ؟ خپل نظرونه او وړاندیزونه راټول کړئ چې څنګه د خلکو د رایې ورکولو علاقه زیاته کړو.

د "آزادې او عامې ټاکنې" او "بنسټیز حقونه او ازادۍ" په اړه د تېرې برخې بکسونه ولولئ. ایا تاسو له دغو حقونو ګټه اخلئ؟ مثالونه ورکړئ.

د "د جګړې پر ضد د نیوکې بندیز" او "د غزې د رسنیو محاصره" برخې ولولئ. ستاسو نظر څه دی؟ کله چې یو حکومت د رسنیو او معلوماتو پر جریان بشپړ کنټرول ولري، څه خطرونه پیدا کېږي؟ ایا داسې څه په سویډن کې هم ممکن دي؟

د نړۍ د نفوس تر ټولو شتمن ۱ سلنه خلک د نړۍ له ۹۵ سلنه څخه زیاتې شتمنۍ لري. په عین وخت کې، میلیونونه انسانان په شدیده فقر کې ژوند کوي. که څه هم سویډن د OECDد ۳۶ غړو هېوادونو له ډلې تر ټولو برابر هېوادونو څخه دی، خو د عایداتو توپیرونه دلته هم زیات شوي دي. نن د سویډن د عایداتو واټن د څو لسیزو په پرتله ډېر پراخ شوی دی . همدارنګه، د روغتیا نابرابري هم زیاته شوې ده. ستاسو په اند، د طبقو ترمنځ زیاتېدونکي واټنونه څنګه د ډیموکراسۍ او د ټولنې د یووالي پر احساس اغېز کولی شي؟

د لا زیات معلوماتو لپاره وګورئ:

د NBV راپور "پوهه، روزنه او بصیرت"
https://www.nbv.se/globalassets/dokument/huvudmannaarbete/kunskap-bildning-insikt-2017

11

د بند شویو کتابونو متن ولولئ .ایا تاسو داسې نور مثالونه پېژنئ چې پکې دولت، سازمانونه یا بېلابېلې ډلې هڅه کوي چې بېلابېل فرهنګي څرګندونې محدودې کړي؟
ستاسو په اند دا ډول محدودیتونه پر ډیموکراسۍ څه اغېز کولی شي؟

تاسو کولای شئ د Svenska PEN وېبپاڼه وګورئ او د هغوی د بند شویو ادبي اثارو لېست ولولئ.
تاسو د دې لېست په اړه څه فکر لرئ؟

https://www.svenskapen.se/lista-ver-frbjuden-litteratur

د سیمې خبریالانو او د بدن کمرې په مرسته، د غزې د خلکو د ورځني ژوند بې‌پرده انځور وړاندې کېږي.
https://www.svtplay.se/video/KzVBd4X/gaza-till-sista-andetaget

د کرونا وبا د نړۍ پر بېوزلو خلکو سخت اغېز وکړ، او د فقر د له منځه وړلو هڅې یې ودرولې. سره له دې چې نړۍ تر ډېره له وبا وروسته بېرته رغېدلې ده، خو تر ټولو بېوزله خلک شاته پاتې دي، چې دا د نابرابرۍ زیاتېدو لامل شوی دی. د شتمنو او بېوزلو هېوادونو ترمنځ واټن د ۲۵ کلونو وروسته بیا پراخېږي. د نړېوال بانک له مخې، اوس د ۲۰۱۹ کال په پرتله ډېر خلک بېوزلي دي.

ستاسو نظر په دې اړه څه دی؟

نور ولولئ دلته:
شتمن هېوادونه د پرمختګ تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلي، خو د نړۍ بېوزله هېوادونه شاته پاتې دي
https://www.undp.org/sv/sweden/press-releases/rika-lander-nar-rekordhoga-utvecklingsnivaer-medan-varldens-fattigaste-hamnar-pa-efterkalken

فقر او اقتصادي نابرابري
https://oxfam.se/nyheter/mer-om-fattigdom-och-ekonomisk-ojamlikhet/

## (Heta stolen)ګرمه څوکۍ

د ارزښتونو تمرین چې هر څوک هڅوي چې فکر وکړي.
یو څوک به لاندې څرګندوني په غږ سره ولولي. نور ګډونوال په یوه کرۍ کې ناست وي، او یوه څوکۍ به تشه وي. هغه کسان چې له څرګندوني سره موافق وي، څوکۍ بدلوي. که څوک موافق نه وي یا پرېکړه ونه کړي، پر خپل ځای ناست پاتې کېږي. کله ناکله تم شئ او د څرګندونو په اړه خبرې وکړئ.
دا تمرین داسې هم ترسره کېدای شي چې څوکۍ ونه‌بدلېږي، یوازې بحث وشي.

**څرګندوني:**

- د رأیې له لارې د ټولني پر چارو اغېز کېدای شي.
- زه تصور کولی شم چې د ښاروالۍ په شورا کې برخه واخلم.
- رأی ورکول مهم دي.
- دا هیڅ فرق نه کوي چې زه څنګه رأیه ورکوم.
- سیاستوال د عادي خلکو خبرې نه اوري.
- له یو سیاستوال سره اړیکه نیول اسانه دي.
- سویډن یوه قوي دموکراسي لري.
- خپلواکه رسنۍ د دموکراسۍ لپاره مهمې دي.
- موږ باید ډېر ټولپوښتني (رفرنډمونه) ولرو.
- زه پر دې نه پروا کوم چې په اروپايي اتحادیه کې څه پرېکړې کېږي.
- سیاستوال د دې هېواد د ټولو ستونزو مسؤل دي.
- زه او نور خلک کولای شو د خپلې سیمې پرمختګ اغېزمن کړو.

## (Läs-mer-tips)نور معلومات

د رایه ورکولو په اړه احصایه:
http://www.scb.se/hitta-statistik/sverige-i-siffror/val-och-partier/valdeltagande/

پوپولیزم څه شی دی؟
https://urplay.se/program/236131-samhallskunskap-forklarad-populism[1.1]

د دموکراسۍ د تمایلاتو احصایه، د SOM انستیتیوټ:
https://www.gu.se/som-institutet/resultat-och-publikationer/rapporter

ملي د خوندیتوب سروې:
https://bra.se/statistik/statistiska-undersokningar/nationellatrygghetsundersokningen.html

پر چا باور وکړو؟Medicinvetarna #173
پوهاند فلیپ پرنامتس د هغو عواملو په اړه خبرې کوي چې زموږ پر باور اغېز کوي.
https://ki.se/forskning/popularvetenskap-och-dialog/medicinvetarna-en-podd-om-kis-forskning/vem-ska-man-lita-pa-medicinvetarna-173[2.1]

د استاکهولم د باند جګړې – د سرلیکونو تر شا مستند لړۍ:
https://www.svtplay.se/stockholms-gangkrig-bakom-rubrikerna

## د فلټر ببلونو او جعلي خبرونو ترمنځ

هغه معلومات چې موږ يې ترلاسه کوو، دا چې څنګه يې ترلاسه کوو او څوک يې خپروي، زموږ د دموکراټيک ګډون لپاره ډېر مهم دي. له همدې امله موږ بايد په دې اړه پوهه ترلاسه کړو.

په تېرو کلونو کې ډېرې خبرې شوې دي د جعلي خبرونو (فېک نيوز)، فلټر ببلونو او د حقايقو د نه منلو (فکټيا ريزېسټنس) په اړه. د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره اوس د ډيپ فېک جعلي ويډيوګانې او غږونه زيات شوي دي.

مصنوعي ځيرکتيا (AI) له موږ غواړي چې د خبرونو او معلوماتو په وړاندې انتقادي چلند ولرو.

د ناسم معلوماتو خپرېدل نوی شی نه دی، خو اوس يې اندازه او چټکتيا بې‌ساري ده. اوس دروغ ډېر ژر د نړۍ هر ګوټ ته رسېږي. دا خطر شته چې خلک په ناسم شيانو باور وکړي.

د حقايقو د نه منلو تمايل دا معنا لري چې يو څوک په خپلو ناسم باورونو ټينګ پاتې کېږي، که څه هم شواهد برعکس وي. احساسات د عقل ځای نيسي.

پر يو شي باور لرل پرته له دې چې کافي دليل ورته ولرئ، يعني دا يوازې عقيده ده، نه پوهه.
د بېلګې په توګه، ساينس ثابته کړې چې څمکه ګرده ده.
خو که څوک ووايي "ځمکه ګرده ده ځکه زه داسې احساس کوم"، دا يوازې د هغه شخصي باور دی، نه علمي ثبوت.

## ساده ځوابونه د پېچلو پوښتنو لپاره

ولې خلک پر ناسم معلوماتو باور کوي؟ ناسم معلومات ستونزمنې مسلې ساده کوي او د سطحي تشريحات وړاندې کوي. د مجرم کېدو لاملونه ډېر دي، نه يوازې يو.که څوک ووايي چې "جرم د يو چا د هېواد له امله دی"، دا يو ناسم او ساده توضيح ده. پوپوليستي ځواکونه د خلکو له دې تمايل نه ناوړه ګټه اخلي چې غواړي ساده ځوابونه پيدا کړي. موږ انسانان عموماً داسې څوک لټوو چې زموږ باورونه تاييد کړي. دا موږ ته د يوازيتوب احساس کموي. ممکن ښه احساس وکړو چې د فيسبوک په يوې ډلې کې ګډون وکړو چې زموږ نظرونه شريکوي.

خو دا هم شوني ده چې د **ټولنيز فشار** لاندې راشو ، دا چې غواړو لکه نور فکر وکړو.که چې يو څوک خوښو، اسان پرې باور کوو. کارپوهان عموماً قانع کوونکي وي، خو بايد وڅېړل شي: آيا د خپلو خبرو لپاره شواهد لري؟
آيا د همدې موضوع متخصص دي؟
او نور کارپوهان د دې په اړه څه وايي؟

## دموکراسي ته اغېز

دا خطر شته چې موږ يوازې هغه معلومات ومنو چې زموږ د ډلې نظرونه پياوړي کوي، او هغه څه رد کړو چې برعکس ښيي. که ته باور لرې چې کانابيس (حشيش) زيان نه لري، نو اسانه ده چې يوازې هغه معلومات ومنې چې دا خبره تاييدوي، نه هغه راپورونه چې د هغې خطرونه ښيي ، که څه هم دوه راپورونه ووايي بې‌ضرره ده، خو زر نور يې زيانونه ثابته کړي وي.

که ډېر خلک پر ناسم معلوماتو باور وکړي، دا د ټولنې او دموکراسۍ پر ټولو برخو اغېز کوي. په سويډن کې دوديز رسنۍ تل متوازنې او باوري وې.خو ځينې ډلې بديلو رسنيو ته مخه کړې، چې د حقايقو پر بنسټ د خبرونو معيارونه نه پالي.کله چې موږ خپل معلومات له بېلابېلو سرچينو اخلو، زموږ د واقعيت ليد هم توپير کوي. دا يو حالت رامنځته کوي چې ورته قطبي کېدل (پولاريزيشن) ويل کېږي ، يعني خلک په بېلابېلو ډلو وېشل کېږي. دا کار د ټولنيزو بحثونو او موافقې لپاره خنډ ګرځي.

## فلټر ببلونه(Filterbubblor)

فلټر ببلونه داسې مفهوم دی چې وايي: موږ په انټرنټ کې د هغو «ببلبلو» دننه ژوند کوو چې زموږ د نظرونو سره سمون لري. دا حالت د الګوریتمونو له لارې کنټرولیږي. کله چې ته ځانګړي پاڼې خوښوې، ځانګړې ویب‌پاڼې لولې او ځانګړي لغاتونه لټوې، نو ګوګل او فیسبوک پوهیږي چې تا ته کوم ډول مطالب خوښ دي. که دوه کسان له بېلابېلو کمپیوټرونو یو شان لغت ولټوي، پایله یې یو شان نه وي.پایله تر ډېره پورې د مخکېنیو لټونونو پورې اړه لري.

هغه خبرونه چې موږ يې وينو، تر يوه حده د دې له مخې ټاکل کيږي چې زموږ ملګري څه خوښوي او څه شريکوي.که ته د SVT پاڼه په فیسبوک کې تعقیبوې، هر څومره چې د هغوی ویډیوګانې خوښوې، د هغوی زیات پوسټونه به تا ته ښکاره شي.هغه څه چې نه خوښوې، ورو ورو پټیږي.داسې هم کیږي چې د هغو کسانو پوسټونه ډېر ښکاره شي چې ته ورسره تعامل لرې، خو نور ورو ورو له فیډ نه ورکیږي.

## ټولنیزې رسنۍ لید پراخوي

پوښتنه دا ده: دا "بلبلونه" څومره ترلي دي؟ تر کومه ځایه موږ خپله دا انتخاب کوو چې په فلټر ببل کې پاتې شو؟ ځینې څېړونکي وايي چې د فلټر ببل مفهوم یو افسانه ده. د ګوتنبرګ پوهنتون څېړونکې **آنیکا بېګستروم** وايي: «موږ تل هغه ملګري او فعالیتونه غوره کړي چې زموږ نظرونه تاییدوي.» د رسنیو د کارونې څېړنې ښیي چې یوازې یوه کوچنۍ ډله خلک د خپل فکر د خلکو خبرې تعقیبوي، خو ډېری نورو ته ټولنیزې رسنۍ پراخ لیدونه برابروي.

ډېری مطالعې ښیي چې خلک اوس له انټرنټ او ټولنیزو شبکو څخه ډېر متنوع معلومات ترلاسه کوي. برخلاف د یوې ترلې بلبلې، ټولنیزې رسنۍ "چینوي" دي – یعنې کېدای شي داسې خبر ووینې چې مخکې به دې نه لیدلی.

## له ټولنیزو رسنیو څخه سیاسي معلومات

ډیجیټلي کېدل په سیاست کې هم چټک روان دی. په ۲۰۱۴ کال کې د پارلمان د ټاکنو پر مهال د رایه ورکونکو نیمايي هم د سیاسي معلوماتو لپاره انټرنټ نه کاراوه. خو په ۲۰۲۲ کال ټاکنو کې ټولنیزو رسنیو مهم رول ولوباوه. دا د Internetstiftelsenد یوې ځانګړې څېړنې پایله ده.

د زړو رایه ورکونکو لپاره تلویزیون د سیاسي معلوماتو اصلي سرچینه وه، خو دا د عمر له کموالي سره کمیږي. هغه رایه ورکوونکي چې د ۹۰ او ۰۰ لسیزو دي، زیاتره له ټولنیزو رسنیو سیاسي معلومات اخلي.

د ټولنیزو رسنیو پلاتفورمونه د نسلونو ترمنځ توپیر لري. د ۲۰۰۰ لسیزې ځوانان نږدې یوازیني دي چې د سیاسي معلوماتو لپاره ټیک ټاک (Tiktok) کاروي. زړې ډلې بیا زیاتره فیسبوک (Facebook) کاروي.فیسبوک هم د سیاسي  نظر څرګندولو تر ټولو عام ځای دی ، پرته له ځوانو رایه ورکوونکو.

## د سرچینو ارزونه

موږ باید زده کړو چې هغه معلومات چې ترلاسه کوو، څنګه وارزول شي. دې ته د سرچینو ارزونه یا ګهل‌کریتیک ویل کیږي. دا معنا لري چې ته سرچینې په منظم ډول څېړې او دا پرېکړه کوې چې ایا باور پرې کېدلی شي که نه. سرچینه هغه ځای دی له کومه چې معلومات ترلاسه کوې.

موږ د سرچینو له لارې د شیانو په اړه پوهه ترلاسه کوو. یو دکان رسید ښیي چې یو څوک څه شي اخیستی، یو دایره المعارف موږ ته علم راکوي، یو ثبت شوی مرکه موږ ته د یو چا تجربې ښیي، او د ډېرو دورې یوه ختینه لوښي موږ ته دا ښیي چې خلک هغه وخت څه کارول. دا ټول سرچینې موږ ته معلومات راکوي چې د پوهې بنسټ جوړوي.

نن ډېر خلک خپل معلومات د انټرنېټ له لارې ترلاسه کوي، په ځانګړې توګه د ټولنیزو رسنیو له لارې. دا ډېره زیاته معلومات ممکن مغشوشه ښکاري، خو انټرنېټ دا هم اسانه کوي چې وګورو ایا معلومات ریښتیني دي، د باور وړ دي، که جوړ شوي دي. که د سرچینو په اړه انتقادي نظر ونه لرې، امکان لري دوکه وخورې او غلط معلومات خپاره کړې.

د دې د مخنیوي لپاره، باید د هغو سرچینو په اړه زیات وپوهېږې چې ترې ګټه اخلې. دا پاڼه د چا ده؟ یوه اداره ده؟ سیاسي ګوند دی؟ که یو شخصي کس؟ د پاڼې موخه څه ده؟ معلومات ورکول؟ د نظر بدلول؟ د محصول پلور؟ که تفریح؟

## جعلي انځورونه

دروغجن معلومات کولای شي د انځورونو او ویډیوګانو له لارې هم خپاره شي. یو انځور کولای شي له خپل اصلي حالت څخه وایستل شي او په بل ځای کې په غلطه توګه وکارول شي.

د بېلګې په توګه، کله چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سویلي افریقا له ولسمشر سیریل رامافوسا سره وکتل، داسې انځورونه یې ښکاره کړل چې ګواکې د سپین پوستو وژنه ښیي. وروسته د رویټرز خبري آژانس څرګنده کړه چې انځور په حقیقت کې د کانګو له یوې ویډیو څخه اخیستل شوی و.کولای شي د انځور اصلي سرچینه پیدا کړې، د بېلګې په توګه د Google Bild یا Tineyeپه څېر وېبپاڼو له لارې.

انځورونه کېدای شي په مصنوعي ډول هم جوړ شوي وي Deepfake .هغه جعلي ویډیوګانې او غږونه دي چې د کمپیوټر له لارې جوړېږي. کمپیوټر د یو چا ویډیو اخلي او د بل چا مخ پرې نښلوي. دا تخنیک لومړی ځل په ۲۰۱۷ کال کې ښکاره شو. د نن ورځې پیاوړي کمپیوټرونه دا توان لري چې د انسان مخ او احساسات په ډېر طبیعي ډول جوړ کړي.

که د سرچینو په اړه انتقادي نظر ولرې، کولای شي د بېلابېلو سرچینو معلومات پرتله کړې او وګورې چې نور څه وایي. د ټولنیزو رسنیو له لارې هم کولای شي له کارپوهانو یا پېژندل شوو کسانو څخه وپوښتې چې ایا معلومات د باور وړ دي که نه.د سرچینو ارزونه کولای شي ستا لپاره د جعلي خبرونو پر ضد یو ډول واکسین وي.

## د بحث پوښتنې

له لاندې پوښتنو څخه هغه وټاکئ چې غواړئ پرې بحث وکړئ:

- ته معلومات له کومه ترلاسه کوې؟ د ټولنیزو رسنیو له لارې؟ له ورځپاڼو، تلویزیون، راډیو، که بل ځای؟ ایا دا مهمه ده چې معلومات له کومې سرچینې راځي؟ لکه د سویډن راډیو، یوه بلاګ، یا د یوې موسسې وېبپاڼه؟
- د سیاسي معلوماتو ترلاسه کول د نسلونو ترمنځ ډېر توپیر لري. ستا په نظر دا توپیر کومې ګټې او زیانونه لري؟ کله چې سیاسي پیغامونه باید د ټولنیزو رسنیو له لارې خپاره شي، څنګه اغېزمنېږي؟
- ایا ته د خپلو فېسبوک ملګرو یا هغو کسانو سره چې په ټولنیزو رسنیو یې تعقیبوې، ورته ارزښتونه لرې؟ ایا دا دربانډي اغېز کوي که ډېرې خلک د یوې مقالې یا پوسټ خوښونه کوي؟
- ایا دا مهمه ده چې د هغو کسانو له نظرونو هم خبر شو چې له تا سره موافق نه دي؟
- کله چې له داسې یوې سرچینې (لکه وېبپاڼه یا ورځپاڼه) سره مخ شې چې مخکې مو نه وې اورېدلې، باید څه ته پام وکړې؟
- ایا د جعلي خبر (Fake News) کوم مثال لرې چې تا، ملګري دې یا بل چا خپور کړی وي؟ که دروغجن خبرونه خپاره شي، څه پایلې لرلی شي؟
- څنګه بېلابېل ډلې دروغجن معلومات کاروي څو خلک قانع کړي چې دوی سم دي؟ بېلګې ورکړه.

- د «ګهلکریتیک د لویانو لپاره» متن ولوله. څنګه پوهېدلای شې چې یو خبر رښتینی دی او که جعلي؟ ته خپله څنګه کوې؟
- د Källkritikbyrånوېبپاڼې ته ورشه.
هلته ځینې زړې بېلګې شته، خو د انتقادي فکر کولو اصول ښیي. یو مثال وټاکه چې ښیي یو خپور شوی خبر دروغ و.
ایا ته خپله دا خبر لیدلی و؟ ولې فکر کوې نور یې خپور کړی؟ څنګه له انځورونو یا ویډیوګانو څخه د دروغو د خپرولو لپاره استفاده شوې؟
https://kallkritikbyran.se/
- ایا کله له AI (مصنوعي هوش) جوړ شوي انځورونه دې لیدلي چې په لومړي سر کې دې فکر کړی و رښتیني دي؟
ستاسو نظر څه دی د AI د کارولو په اړه د متن او انځور جوړولو لپاره؟
دغه مقاله ولولئ او بحث پرې وکړئ:
https://www.biblioteksbladet.se/nyheter/digitalisering/ingen-sjalvklar-metod-for-att-avsloja-ai-bilder/
- نن ورځ د انټرنېټ لاسرسی د معلوماتو ترلاسه کولو او ډېرو خدماتو لپاره اړین شوی دی، د روغتیا، ښوونځي، او خبرونو له خپرونو سره د اړیکي لپاره.
خو د ټولني ټولي ډلي په دې ډیجېټلي ټولنه کې یو شان برخه نه لري.
دا توپیر د اوسېدو ځای، عمر او نورو فکتورونو پورې اړه لري.
تاسو څه فکر کوئ؟ دا حالت څه اغېزې لري؟

لاندې ویډیوګاني وګورئ او وروسته بحث وکړئ:

ګهلکریتیک څه شی دی او څنګه انتقادي فکر کولی شو؟ (په ساده سوېډني ژبه)
https://www.youtube.com/watch?v=tMJwK7cKe9M

د جعلي فابریکه :(Fejkfabriken) د ۲۰۲۴ د امریکا د ټاکنو پر مهال ډېر جعلي انځورونه او ویډیوګاني خپرې شوې.
دا یو مستند دی د AI رول په اړه د غلطو معلوماتو په خپرولو کې.
https://www.svtplay.se/video/jMdmM11/fejkfabriken

کله چې نږدې هر څه د AI په مرسته جعلي کېدلای شي، پر چا باور وکړو؟ د *Smartare än hjärnan*لړۍ یوه برخه، د AI او درغلۍ په اړه.
https://www.svtplay.se/video/KLJZbqv/smartare-an-hjarnan/3-ai-och-manipulation

<u>د سرچینو ارزونه او نژادپالنه په تاریخ کې</u>

## د لا زیات لوستلو وړاندیزونه(Läs-mer-tips)

د سرچینو ارزونه (ګهلکریتیک)

Källkritikbyrån

سویډنیان او انټرنېټ

په محرومو سیمو کې د ډیجېټلي ګډون نشتوالی (ستره تشه)

د Blankspot راپورونه د سویډن د دموکراسی د حالاتو په اړه یو اکتشافي سفر

له Frankenstein څخه تر – ChatGPT د مصنوعي ځیرکتیا (AI) تاریخ

سویډنیان او انټرنېټ، د ټاکنو ځانګړې برخه ۲۰۲۲د Internetstiftelsen راپور د ۲۰۲۲ ټاکنو وروسته
https://svenskarnaochinternet.se/rapporter/svenskarna-och-internet-valspecial-2022/

## د NBV پوډکاسټ

د NBV پوډکاسټ واورئ، چیرې چې ګډونوال د بیان ازادۍ، فیلټر ببلونو، جعلي خبرونو او د حقایقو د نه منلو په اړه بحث کوي. د پوډکاسټ مېلمنه سوفیا میرجمسدټر (Sofia Mirjamsdotter) ده، چې په ۲۰۱۱ کال کې د کال د نوښتګر ژورنالست جایزه وګټله. د پوډکاسټ موده: ۲۸ دقیقې.

## ځان د دموکراسۍ لپاره چمتو کړه

«یو عادي انسان د یوې سختې اور لګېدنې پر وړاندې څه کولی شي؟ هغه کولای شي وتښتي او هغه کسان پرېږدي چې نه شي منډه وهلی یا د تښتېدو ځای نه لري.هغه کولای شي ودرېږي او یوازې اندېښنه وښيي. هغه کولای شي پر نورو پړه واچوي. او یا کولای شي خپله کوچنۍ چایګاشوغه له اوبو ډکه کړي او یو ځل بیا پر اور وشیندي. موږ ټول یوه قاشوغه لرو.»
آموس اُز(Amos Oz)

لیکوال آموس اُز موږ ته راپه‌یادوي چې کله غواړو بدلون راولو، هر یو انسان مهم دی.موږ ټول په ټولنه کې اړین یو. انسانان باید دا احساس وکړي چې ټولنه د هغوی لپاره ده. که داسې احساس ونه‌لرو، کېدای شي د بې‌ګانګۍ یا جلاوالي احساس وکړو.د یوې ټولنې برخه کېدل او دا احساس لرل چې کارونه مو مانا لري، زموږ د ذهني روغتیا لپاره مهم دي. خو دا احساس څنګه رامنځته شي؟ څېړنې ښيي چې د ټولنیزو او مدني فعالیتونو برخه کېدل، لکه د اتحادیې یا ټولنې غړیتوب، یو ښه لاره ده.په تاریخ کې د سویډن ولسي خوځښتونه (folkrörelserna) د دموکراسۍ په پرمختګ کې ستر رول لوبولی. دغه ګډوالي خلکو ته هیله، د راتلونکي باور او د معنا احساس ورکړی. خلک یې زده کړل چې یو ځای د ټولنې بدلون ممکن دی.

## د خلکو زده‌کړه د لیدنې او پوهې وسیله ده

لومړی مطالعوي کړۍ د شلمې پېړۍ په پیل کې جوړه شوه. مشري یې اوسکار اولسن کوله، چې د مطالعوي کړۍ پلار بلل کېږي. هغه د خلکو زده‌کړه داسې بیان کړه: « زده‌کړه د خلکو لپاره او د خلکو له خوا.» په یوې مطالعوي کړۍ کې خلک راټولېږي څو نوي شیان زده کړي، بحث وکړي، فکر وکړي او د دموکراسۍ او برابرۍ پر بنسټ بدلون راولي.

د خلکو زده‌کړه د ملاقات او خبرو فضا برابروي.موږ کولای شو له نورو سره یو ځای نوې پوهه او درک پیدا کړو. د کلتور له لارې – ادبیات، تیاتر، هنر، موسیقي – کولای شو نوې نړۍ وګورو، د نورو نظرونه درک کړو او د هغوی حالت ته ښه متوجه شو.دا مرسته کوي چې د نورو د ژوند حالت ښه درک کړو.د بېلګې په توګه، د ویلهلم موبرګ مشهوره مهاجراند لوستلو له لارې کولای شو درک کړو چې د خپل هېواد پرېښودل، د نوې ژبې زده‌کول او د نوي کلتور سره مخ کېدل څومره ستونزمن دي.موږ کولای شو د ۱۵۰ کاله پخواني سویډن حالت د نن ورځې له نړۍ سره پرتله کړو.

## د ټولنې پر لور لاره

په د خلکو زده‌کړه کې موږ د دموکراسۍ له مخې کار کوو، چیرې چې هر انسان یو غږ او حق لري. موږ زده کوو چې د نورو خبرې واورو، بحث وکړو او خپل نظر څرګند کړو. موږ دا هم زده کوو چې د یو بل توپیرونه درناوی وکړو.

نن زموږ په ټولنه کې ډېر کسان ژوند کوي چې له جګړو، ظلم او ګډوډۍ څخه د نړۍ له نورو سیمو راغلي دي. د ټولنیزو او د خلکو زده‌کړې په فعالیتونو کې ګډون، د سویډني ټولنې ژوند ته د ننوتلو یوه لاره ده.

## NBVد دموکراسۍ پیاوړتیا کوي

که د NBV اوسنۍ حالت ته وګورو، ډېر مثالونه شته چې ښیي د خلکو زده‌کړه خلکو ته دا فرصت ورکوي چې د ټولنې برخه شي او د ژوند مانا ومومي.دغه زده‌کړه د خبرو او بحث فضا هم رامنځته کوي:

### SCHABRAKET

SCHABRAKET یوه هنري پروژه ده چې غږونه نه پرېښودل کېږي (صوتي عایق لري) او هدف یې د ناآشنا خلکو ترمنځ د ناڅاپي ملاقاتونو رامنځته کول دي. NBV دا د د خلکو زده‌کړې یوه متمرکزه بڼه بولي ، لکه د مطالعوي کړۍ . په SCHABRAKET کې هغه کسان یو له بل سره خبرې کوي چې مخکې یې نه دي لیدلي. دا خبرې په داسې ځای کې کېږي چې بل څوک نه اوري.

د SCHABRAKET شاته مفکوره دا ده چې کله موږ له یو بل سره خبرې کوو، نړۍ ښه کېږي. ډیموکراسي ته اړتیا ده چې موږ له خپلو فکري حبابونو راووځو او له نوو خلکو سره خبرې وکړو.کله چې د ټولنې دننه وېش او قطب‌بندي زیاتیږي، د خلکو زده‌کړې د یووالي ځواک ډېر مهم دی.
دا هماغه بنسټ دی چې هره اونۍ د NBV په فعالیتونو کې ښکاري ، د ګنډلو په ټولګي، د موسیقۍ په تمرین یا د کتاب لوستنې په کړۍ کې.

نور معلومات د SCHABRAKET په اړه:
https://www.nbv.se/schabraket/

## بندې شوې نغمې

بندې شوې نغمې یو موسیقايي ننداړتون دی چې افغان او سویډني مسلکي موسیقاران پکې یو ځای کېږي. افغانستان یوازنی هېواد دی چې اوس مهال پکې موسیقي بنده ده. د سندرو، شعر او د افغاني دودیزو او لویدیځو وسیلو ګډو موسیقۍ له لارې، اورېدونکي دا احساس کوي چې کله چوپ شوې نغمې بیا غږېږي، څه پیښېږي.

له کنسرت وروسته د کلتوري فعالانو، سیاستوالو او څېړونکو ترمنځ د نظرونو تبادله کېږي. بحث د دې پر سر وي چې هنري ازادي د ډیموکراسۍ پر پیاوړتیا څه اغېز لري او ولې د کلتوري څرګندونو دفاع مهمه ده.

دا ننداړتون به په ۲۰۲۵ او ۲۰۲۶ کلونو کې د سویډن په بېلابېلو برخو کې ترسره شي.

نور معلومات د بندې شوو نغمو په اړه:
https://www.nbv.se/regioner/syd/de-forbjudna-melodierna/

NBV

## د موسيقۍ کور اُدن

Musikhuset Odenپه کارلسکرونا (Karlskrona) ښار کې د خلاقیت ځای دی، یو کور چې د مطالعوي کړیو (studiecirklar)او د خلکو زدهکړې (folkbildning) له لارې پرمخ ځي. دلته بېلابېل کورسونه کېږي، له سټوډیو تخنیک او د کنسرت تنظیم تر د وېګن کیک پخولو پورې. دلته د موسیقۍ ډلې تمرین کوي، او ځوانان راځي چې کنسرتونو ته لاړ شي یا یوازې په یو پاک، بېالکوله ځای کې یو له بل سره وخت تېر کړي.

رابین آرونسون(Robin Aronsson) ، د NBV د فعالیتونو پرمختیا مشاور، وایي:

« زما لپاره د خلکو زدهکړه د یووالي او معنا موندلو په اړه ده. دا چې له نورو سره خپل شوق شریک کړې، له همفکره خلکو سره وګورې او احساس وکړې چې ته ارزښت لرې. د خلکو زدهکړه د ذهني ناروغۍ، یوازیتوب او جنایت مخه نیسي. دا د یوې روغې ټولنې بنسټ دی.»

نور معلومات د Musikhuset Oden په اړه:
https://www.nbv.se/regioner/syd/nyheter/sa-gav-robin-musikhuset-nytt-liv/

## د موسیقۍ کور سکرېکت

Skriket یو بېالکوله او بېمخدره موسیقايي مرکز دی چې د NBV لخوا په لیندهولمن (Lindholmen) ګوتنبرګ کې چلول کېږي. دلته د موسیقۍ لپاره خوني شته، خو د تیاتر او نورو هنري فعالیتونو لپاره هم کارېږي. د موسیقۍ په نړۍ کې د جنسیت برابرۍ د پیاوړتیا لپاره، ځینې خونې یوازې هغو ډلو ته ځانګړې شوې دي چې له نجونو او ترانس کسانو جوړې دي.

هره اونۍ شاوخوا ۱۰۰ کسان دلته تمرین کوي ، له د لیسي عمره تر ۷۰ کلنۍ پورې.

نور معلومات د Musikhuset Skriket په اړه:
https://www.nbv.se/regioner/vast/musiklokaler/musikhuset-skriket2/

## د بحث پوښتنې

هغه پوښتنې وټاکئ چې غواړئ یو ځای پرې بحث وکړئ:

د فصل په پیل کې د آموس اُز (Amos Oz) وینا ولولئ. ستا نظر څه دی؟ ایا موافق یې؟ ستا په اند د ټولنې "اورونه" څه دي؟ ته خپله د خپلې "چایقاشوغي" سره څه کولی شې؟

د یو پېړۍ مخکې د خلکو د اتحادیې او مطالعوي کړیو غونډې خلکو ته د راتلونکې هیله ورکوله او د ټولنې د بدلون وسایل یې برابره ول. موږ نن څه غواړو بدل کړو؟

ته د کومو ډلو یا چاپېریالونو برخه یې؟ (د بېلګې په توګه: کورنۍ، اتحادیه، مذهبي ټولنه) لیکوالې او ښوونکې ایلن کي (Ellen Key) ویلي: « زدهکړه هغه څه دي چې وروسته له هېرولو هم له موږ سره پاتې کېږي.»
ستا په نظر هغې څه ویل غوښتل؟

موږ څنګه کولای شو د نورو د درک وړتیا زیاته کړو د لوستلو، تیاتر، فلم یا نورو کلتوري تجربو له لارې؟
که شي، خپله یوه بېلګه ورکړه. ستا خپله مطالعوي کړۍ څنګه کولای شي د دموکراسۍ تمرین وي؟

د NBV د بېلابېلو پروژو په اړه چې متن کې راغلي، لوستل وکړه. ستا نظر څه دی؟ ایا نور مثالونه لرې چې وښیي د خلکو زدهکړه یا د ټولنو فعالیتونه خلکو ته د ډیموکراسۍ په برخه کې د ګډون فرصت برابروي؟

JAG RÖSTAR! FÖR DEMOKRATIN

## د ټاکنو د ورځې لپاره چمتووالی

په ټاکنو کې د ګډون ورځ هغه وخت ده چې ته د خپل دموکراتیک حق له لارې د سویډن پر راتلونکي اغېز کولی شې.
د پارلمان(riksdag) ، سیمې (region) او ښاروالۍ (kommun) ټاکنې هر څلور کاله یو ځل د سپټمبر په دوهمه یکشنبه ترسره کېږي. د اروپايي پارلمان (Europaparlamentet) ټاکنې هر پنځه کاله ترسره کېږي.

## څلور عامې ټاکنې شته:

- د ملي پارلمان ټاکنې(riksdagen)
- د سیمې شورا ټاکنې(regionfullmäktige)
- د ښاروالۍ شورا ټاکنې(kommunfullmäktige)
- د اروپايي پارلمان ټاکنې(Europaparlamentet)

په فصل « د دموکراسۍ نقشه» کې تشریح شوې چې د هرې کچې چارواکي د کومو موضوعاتو پرېکړې کوي.
همدارنګه ځانګړې قاعدې شته چې څوک کولای شي په هر ډول ټاکنو کې رایه ورکړي.

## ته په سیمه‌ییزو او ښاروالۍ ټاکنو کې رایه ورکولی شې که:

- د سویډن تبعه یې او په سویډن کې ثبت شوې وې(folkbokförd) ، یا
- د اروپايي اتحادیې(EU) ، ناروې (Norge) یا ایسلنډ (Island) تبعه یې او په سویډن کې ثبت شوې وې، یا
- د بل هېواد تبعه یې او لږ تر لږه درې کاله پرله‌پسې په سویډن کې ثبت شوې وې.

ته باید تر ټاکنو مخکې ۱۸ کلن یا زیات عمر ولرې.
هغه څوک چې د سیمې یا ښاروالۍ رایه ورکولو حق لري، کولای شي د سیاسي دندو لپاره هم وټاکل شي.

## ته په پارلماني ټاکنو کې رایه ورکولی شې که:

- د سویډن تبعه یې او په سویډن کې ثبت شوې وې یا پخوا شوې وې.

ته باید تر ټاکنو مخکې ۱۸ کلن یا زیات عمر ولرې.

## ته کولای شې د اروپايي پارلمان په ټاکنو کې رایه ورکړې که:

- د سویډن تبعه یې او په سویډن کې ثبت شوې وې یا پخوا شوې وې، یا
- د اروپايي اتحادیې (EU) تبعه یې او لږ تر لږه ۳۰ ورځې د ټاکنو نه مخکې په سویډن کې ثبت شوې وې.
  په دې صورت کې باید د Länsstyrelsen ادارې ته خبر ورکړې چې غواړې په سویډن کې رایه ورکړې، نه په خپل هېواد کې.

ته باید تر ټاکنو مخکې ۱۸ کلن یا زیات عمر ولرې.

## څنګه رایه ورکړو

له ټاکنو مخکې، هر هغه څوک چې د رایې حق لري، خپل رایه‌ورک کارت (röstkort) د پوست له لارې ترلاسه کوي. دا کارت شاوخوا درې اوونۍ مخکې له ټاکنو درلېږل کېږي.پکې لیکل شوي وي چې په کوم ځای کې باید رایه ورکړې او د کومو ټاکنو د رایې حق لرې. په ټاکنیز مرکز (vallokal) کې ته د هرې ټاکنې لپاره یو رایه‌پاکټ (valkuvert) ترلاسه کوې.هلته د بېلابېلو ګوندونو رایه‌پاڼې (valsedlar) هم موجودې وي چې کولای شې یوه واخلې.

د رایه‌پاڼو رنګونه دا دي:

- ژېړ د پارلمان ټاکنو لپاره(riksdag)
- آبي د سیمي شورا ټاکنو لپاره(regionsfullmäktige)
- سپین د ښاروالی شورا ټاکنو لپاره(kommunfullmäktige)

په ټاکنیز مرکز کې د پټوالي پردې شته. شاته ورشه، یوه رایهپاڼه په هر پاکټ کې واچوه، او پاکټ مهر کړه. پاڼه مه تاوې، او باید یوازې ولاړ وې ، هېڅ څوک باید ونهپوهېږي چې ته چا ته رایه ورکوې. دا پټه رایه ده.

وروسته له دې، پاکټونه د رایهاخیستونکي مسئول (valförrättare) ته وسپاره.دغه شخص د رایې پروسه پر مخ وړي، بېطرفه دی او د هېڅ ګوند استازی نه دی. هغه نهشي لیدلی چې ته کوم ګوند ته رایه ورکړې. ته باید د هویت ثبوت (تذکره یا پېژندپاڼه) وړاندې کړې.که څوک ناروغ وي، د تګ راتګ توان ونهلري، یا زوړ وي، کولای شي د بل چا له لارې رایه ورکړي.(rösta med bud) همدارنګه هغه کسان چې په بند یا توقیف ځای کې دي، کولای شي له بود څخه ګټه واخلي. که په کلیوالي سیمه کې اوسې، د پوسټ لېږدونکی (lantbrevbärare) هم ستا بود کېدلی شي.

که څوک د ټاکنو په ورځ خپله رایه نشي ورکولی، کولای شي له ټاکنو مخکې رایه ورکړي.(förtidsröstning) دغه بهیر له ټاکنو ۱۸ ورځې مخکې پیلېږي او تر ټاکنو پورې دوام لري.

نور معلومات د Valmyndigheten په وېبپاڼه کې وګوره.

## څه ته رایه ورکړم؟

هر سیاسي ګوند د خپلې عقیدې او نظر پر بنسټ جوړ شوی وي ، دا چې د دوی نظر د ټولنې د ښه چلېدو لپاره تر ټولو غوره دی.د خلکو د قانع کولو یوه لاره بیان هنر (retorik) ده ، یعنې د وینا هنر.ګوندونه د انځورونو او اعلانونو له لارې هم خپل پیغام خپروي – لکه پوسترونه، اعلانونه او ویډیوګانې. په بېلابېلو لارو سره، دوی هڅه کوي چې اورېدونکی یا لیدونکی متوجه، متاثره او قانع کړي. کله چې ته د سیاسي ګوندونو له خوا خپره شوې معلومات لولې یا اورې، دا مهمه ده چې په انتقادي توګه فکر وکړې. وګوره چې په رښتیا څه ویل کېږي او هڅه وکړه پوه شې چې هر ګوند د خپلو اصطلاحاتو او انځورونو له لارې څه معنا لري.

ځینې خلک د یوې ځانګړې موضوع له مخې پرېکړه کوي چې چا ته رایه ورکړي ،لکه د چاپېریال ساتنه، د مخدره موادو د سیاست نظر، د ښځو او نارینهوو برابري، یا د ښوونځي مسئلې.هغوی هغه ګوند ته رایه ورکوي چې د دې موضوع لپاره تر ټولو ښه حل وړاندې کوي، که څه هم د نورو موضوعاتو سره ښېر موافق نه وي. ور بیا داسې فکر کوي چې مهمه دا ده چې د هغه ګوند ملاتړ وکړي چې د دوی د ارزښتونو سره په ډېرو برخو کې موافق وي.

سیاسي ګوندونه خپل دریځونه په ګوندي پروګرام (partiprogram) کې څرګندوي. د ټاکنو نه مخکې، هغوی ځانګړي انتخاباتي پروګرامونه (valprogram) هم جوړوي.

بېلابېل رسنۍ معمولاً د ټاکنو قطبنما وړاندې کوي، چې له لارې یې کولای شې وګورې ستا نظرونه د کوم ګوند له سیاست سره ډېر ورته دي.

## د سیاسي ګوندونو وېبپاڼې

د منځلارې ګوند (Centerpartiet) په ساده سویډنۍ ژبه:
https://www.centerpartiet.se/ovrigt/lattlast.html

د فمینستي نوښت ګوند (Feministiskt initiativ) په ساده سویډنۍ ژبه:
https://feministisktinitiativ.se/sprak/lattlast/

د عیسوي ډیموکراتانو ګوند (Kristdemokraterna) په ساده سویډنۍ ژبه:
https://kristdemokraterna.se/pa-lattlast-svenska/

JAG RÖSTAR! FÖR DEMOKRATIN

لیبرال ګوند:(Liberalerna)
https://www.liberalerna.se/

شنه ګوند:(Miljöpartiet de gröna)
https://www.mp.se/

محافظه‌کار ګوند:(Moderaterna)
https://moderaterna.se/

سوسیال‌ډیموکرات ګوند (Socialdemokraterna) په ساده سویډني ژبه:
https://www.socialdemokraterna.se/lattlast/

د سویډن دموکراتان:(Sverigedemokraterna)
https://sd.se/

د چپ‌لاري ګوند (Vänsterpartiet) په ساده سویډني ژبه – په څو ژبو لوستل کېدلی شي:
http://www.vansterpartiet.se/latt-svenska

## د بحث پوښتنې

د دې لپاره چې یو هوښیار انتخاب وکړي، څه باید وپوهېږي؟ ایا پوهېږي چې دا معلومات له کومه ترلاسه کولی شي؟

ایا داسې ځانګړي موضوع شته چې د سړکال ټاکنو لپاره درته ډېره مهمه وي؟ ولې؟ ایا پوهېږي چې بېلابېل ګوندونه د دې موضوع په اړه څه نظر لري؟ بېلابېل ګوندونه څنګه هڅه کوي تا قانع کړي چې د دوی سیاست تر ټولو ښه دی؟

ګوند څه ډول ټولنه غواړي؟ او څنګه غواړي هغه هدف ته ورسېږي؟

د بېلابېلو ګوندونو دریځونه څه دي؟ د هغوی وېب‌پاڼې، اعلانونه او بروشورونه ولوله. ایا داسې کلیمې شته چې زیات کاروي؟ ایا داسې ځانګړې موضوع شته چې هغوی ورته ډېر اهمیت ورکوي؟
یادونه :د «راتلونکې ټولنې پر لور (Mot framtidens samhälle) »فصل د نن ورځې سیاسي حالت تشریح کوي.

ایا د ګوندونو په متنونو کې داسې کلیمې یا عبارتونه شته چې درته سخته وي؟ له یو بل، له قاموس، له انټرنېټ یا له یو باخبره شخص مرسته وغواړه.

ګوندونه په ښاروالۍ او سیمه (kommun och region) کې څه ډول سیاست پرمخ بیایي؟ او په ملي پارلمان (riksdag)کې کوم اهداف لري؟ هڅه وکړه دا معلومات د وېب‌پاڼو، د ټاکنیزو خیمو (valstugor) د لیدنې یا د سیاستوالو سره د اړیکو له لارې ترلاسه کړې ، د ټیلیفون، برېښنالیک یا د یوې لیکنې په بڼه.

ستاسو د ډلې په نظر، تر ټاکنو مخکې تر ټولو مهمه موضوع کومه ده؟ د ټکي اېښودل په نوم تمرین وکړئ. یو لوی کاغذ یا څو وړې پاڼې واخلئ، مهمې پوښتنې پرې ولیکئ ، هغه چې تاسو یا ټولنه پرې بحث کوي.
هر څوک یو ټاکلی شمېر «ټکي» یا «سټیکرونه» لري. هر څوک خپلې نښې د هغو موضوعاتو مخې ته ږدي چې ورته مهمې دي. وروسته وګورئ چې کومه موضوع زیات ټکي ترلاسه کړي.
بیا په ګډه پرې بحث وکړئ.

## په نړۍ کې د ډیموکراسۍ کمېدل

په نړۍ کې ډېر خلک اوس په هغو هېوادونو کې ژوند کوي چې د ډیموکراسۍ کچه پکې راټیټه شوې ده. د څېړنیز بنسټ وی-ډیم (V-Dem – Varieties of Democracy) له مخې، د ډیموکراتیکو هېوادونو شمېر اوس لږ شوی او دوی په اقلیت بدل شوي دي. وی-ډیم د ډیموکراسۍ بېلابېلې برخې سنجوي، څو وښيي چې ډیموکراسي څومره پېچلې پدیده ده.

وروسته له هغې چې د برلین دیوال په ۱۹۸۹ کال کې ونړېد، د ختیځې اروپا ډېر هېوادونه د ډیموکراسۍ پر لور ولاړل.
دا بدلون دا معنا درلوده چې هېوادونه له یوګوندي نظام (چې یوازې یو ګوند پکې موجود و) څخه د څو ګوندي او آزادو ټاکنو پر لور ولاړل. د بیان او مطبوعاتو ازادي هم زیاته شوه.
خو نن ورځ دا بهیر برعکس شوی ، په ډېرو هېوادونو کې ډیموکراسي شاتګ کوي. وی-ډیم دغه بهیر استبداد یا خودکامګۍ ته تګ (autokratisering) بولي.
دا معنا لري چې واک په تدریج سره د یوې ډلې یا یو شخص په لاس کې متمرکزېږي او هېواد استبدادي (autokrati) کېږي.

وی-ډیم د بیان ازادي د خپلو مهمو شاخصونو له ډلې ګڼي ، خو دا ازادي په ډېرو هېوادونو کې محدودېږي.
د مدني ټولنې فعالیتونه هم محدود شوي دي. په ډېرو هېوادونو کې د ټولنو او سازمانونو غړي د خپل فعالیت له امله ګواښل کېږي، وهل کېږي یا بندي کېږي.هغه شاخصونه چې تر ټولو ډېر خراب شوي، د بیان ازادي او د رسنیو ازادي دي.د مطبوعاتو محدودول، د ژورنالیستانو ځورول، او دا چې خلک نور په عامه توګه د سیاست په اړه نهشي بحث کولی. پروفسور ستافان آی. لینډبرګ(Staffan I. Lindberg) ، د وی-ډیم مشر، وایي: « د بیان ازادي معمولاً لومړی برخه ده چې د استبداد په وخت کې پرې برید کېږي.» هغه وایي چې دا بهیر په بېلابېلو هېوادونو کې ورته بڼه لري.د ده په وینا، سانسور یا د رسنیو بندیز د ډیموکراسۍ پر ضد تر ټولو عامه وسیله ده. کله چې د بیان ازادي له منځه ولاړه شي، رژیم د مدني ټولنې پر ضد اقدام کوي ، یعني د خلکو د اتحادیې، سازمانونه او ټولنې محدودوي. له دې لارې حکومت پر منتقدینو او د حقیقت ویونکو خلکو کنټرول ترلاسه کوي.

رژیمونه همدارنګه دروغجن معلومات (دیس‌انفورمېشن) خپروي، چې موخه یې د خلکو تېرایستل، تاوتریخوالی زیاتول او وېش رامنځته کول وي. دا کار معمولاً د ټولنې دننه د بېلتون او نفرت فضا زیاتوي، مثلاً د قومونو ترمنځ. واکې کسان بیا له دې وضعې په سیاسي توګه ګټه اخلي.د استبداد بل پړاو د رسمي بنسټونو (لکه محکمې) پر ضد بریدونه دي. د وی-ډیم د ۲۰۲۴ کال د ډیموکراسۍ راپور ښیي چې سیاسي وېش (پولاریزاسیون) په شاوخوا ځلورمه برخه هېوادونو کې زیات شوی دی.

په ۸۰ سلنه هغو هېوادونو کې چې استبداد ته ځي، ډیموکراسي په پای کې له منځه ځي. ځوانې ډیموکراسۍ ډېرې نازکې وي، خو هغه هېوادونه چې اوږده ډیموکراتیکه سابقه لري، مقاومت لري ، خو آن دغه هېوادونه هم کله ناکله شاتګ کوي. لینډبرګ وایي: « د امریکا متحد ایالتونه د ولسمشر ټرمپ په دوره کې داسې ښکاري چې له ډیموکراسۍ څخه د وتلو پر لور روان دي. زما په اند د دې پایلې به په ټوله نړۍ کې سترې وي.»

خو د ۲۰۲۴ کال راپور هم د امید وړ نښې ښیي: په ۱۹ هېوادونو کې د ډیموکراسۍ کچه لوړه شوې ، هغه هېوادونه چې له استبداد څخه ډیموکراسي ته رسېدلي دي. راپور دا هم ښیي چې د ډیموکراسۍ شاتګ تم کېدلی او بیرته راګرځېدلی شي ، لکه برازیل او پولنډ.

## د ډیموکراسۍ ډولونه، وی-ډیم

دا فصل د وی-ډیم (Varieties of Democracy) د نړیوال څېړنیز بنسټ پر معلوماتو ولاړ دی. وی-ډیم د نړۍ تر ټولو ستر ډاټابېس دی چې د هېوادونو د ډیموکراسۍ کچه سنجوي. په دې بنسټ کې له ۱۸۰ هېوادونو څخه تر ۳۰۰۰ زیاتو څېړونکو او کارپوهانو برخه اخیستې ده.وی-ډیم یوه نوې طریقه جوړه کړې چې د ډیموکراسۍ اندازه په ممکنه ډول تر ټولو دقیقه او بې‌طرفه وښیي. دوی د ۴۵۰ شاخصونو له مخې د هر هېواد د ډیموکراسۍ درجه محاسبه کوي.
ځکه چې ډیموکراسي یوازې ازادې ټاکنې نه دي، نو وی-ډیم د حقونو، د خلکو د ګډون او برابرۍ حالت هم ارزوي.
وی-ډیم انستیټوت (V-Dem Institute) د ګوتنبرګ پوهنتون (University of Gothenburg) د سیاسي علومو له څانګې سره تړلی دی.
https://www.v-dem.net/

## د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته د ښځو د حقونو خرابوالی

افغانستان یو مثال دی د داسې هېواد لپاره چې ژر د ډیموکراسۍ نه استبداد ته واوښت. په ۲۰۲۱ کال کې طالبانو بیا واک ترلاسه کړ او سخت مذهبي قوانین یې بیرته عملي کړل. یو له لومړنیو بدلونونو دا و چې د نجونو ښوونځي له شپږم ټولګي پورته بند شول. د ښځو حقونه ژر خراب شول، هغوی ته د کار اجازه نشته او د تګ راتګ ازادي یې ډېره محدوده شوې ده. له طالبانو وروسته د مرګ سزاوې او سخت جزاګانې زیاتې شوې دي.

نور ولولئ د افغانستان په اړه په ساده سویډني ژبه:
https://8sidor.se/varlden/2024/08/talibanerna-firar-i-afghanistan/

## انتخاباتي او لیبرال ډیموکراسي

د ډیموکراسۍ مفکوره د لرغوني یونان له وخته سرچینه اخلي. له هغه وخت راهیسې د ډیموکراسۍ مانا ډېره پراخه شوې، او په بېلابېلو سیمو کې خلک بېلابېل نظرونه لري چې ډیموکراسي څه ته وایي.کله چې وی-ډیم انسټیټوټ یو هېواد ارزوي، ۴۵۰ بېلابېلې برخې سنجوي.

د دې لپاره چې یو هېواد ډیموکرات وګڼل شي، لږ تر لږه باید آزادې او عادلانه ټاکنې او د ټولو لپاره مساوي د رایې حق ولري. همدارنګه باید د بیان ازادي او د ټولنو جوړولو ازادي موجوده وي. وی-ډیم دا ډول نظام انتخاباتي ډیموکراسي بولي. خو ډیموکراسي تر ټاکنو ډېر څه دي، دا د ګډون، نفوذ او د هر انسان د ارزښت درناوی دی، نه یوازې د ټاکنو پر ورځ. ډیموکراسي دا معنا لري چې خلک د خپل نظر د څرګندولو، د ازاد ژوند او د ګډون حق ولري. کله چې وی-ډیم یو هېواد سنجوي، د لیبرال ډیموکراسۍ اصطلاح هم کاروي. دا هغه وخت وي چې یو هېواد مستقل قضاوتي نظام، بنسټونه او اساسي قانون ولري چې د خلکو ازادۍ تضمین کړي. دا پکې شامل دي یو خپلواک مدني ټولنه ، لکه ټولنې، مذهبي ډلې او هغه ځایونه چې خلک پکې تنظیمېږي.آزادې رسنۍ د ډیموکراسۍ یو بنسټیز عنصر دی.په داسې هېواد کې واک وېشل شوی وي ، یعنې دولت نه شي کولی پر محکمو یا رسنیو کنټرول ولري. قانون باید دا تضمین کړي چې ټول خلک د قانون پر وړاندې برابر دي، او اقلیتونه هم حقونه ولري. سویډن، د شمال نورو هېوادونو او جرمني ته د لیبرال ډیموکراسۍ بېلګې ویلای شو.

## استبدادونه

استبداد داسې نظام ته ویل کېږي چې ټول واک د یو شخص یا یوې ډلې په لاس کې وي. د وی-ډیم انسټیټوټ له مخې، استبداد دوه ډوله دی:

## انتخاباتي استبداد

په داسې هېواد کې څو ګوندي ټاکنې کېږي، خو ټاکنې عادلانه یا روڼ نه وي او پایلې یې لانجمنې وي. په انتخاباتي استبداد کې د رسنیو او د بیان ازادي محدوده وي. خلک نهشي کولی په ازاد ډول ټولنې جوړې کړي یا خپل نظر څرګند کړي. بېلګې :بېلاروس، ترکیه او هنګري.

## تړلی استبداد

په تړلي استبداد کې یو مطلق واکمن یا خودکامه پاچا بشپړ واک لري. د خلکو ازادۍ او حقونه ډېر محدود وي. بېلګې : شمالي کوریا، سعودي عربستان او افغانستان.

## د ټولنو د جوړېدو ازادي

د ټولنو د جوړېدو ازادي، چې ورته د سازمان ازادي هم وایي، دا معنا لري چې خلک کولای شي یو له بل سره یو ځای شي او سازمانونه جوړ کړي. دا ازادي دا هم معنا لري چې څوک اړ نه دي د کومې ټولنې غړیتوب واخلي.

دغه ازادي د سویډن د اساسي قانون یوه بنسټیزه برخه ده او د ملګرو ملتونو د مدني او سیاسي حقونو په تړون کې هم شامله ده. د یوه ګوند، ټولنې یا مذهبي ډلې د غړو په توګه موږ دا حق لرو چې غونډې جوړې کړو، خپل نظرونه بیان کړو او نور د خپلو افکارو خبر کړو. دا ازادۍ د ډیموکراتیکو ټولنو بنسټ جوړوي.

## ډیموکراسي د استبداد پر وړاندې

د وی-ډیم انسټیټوټ څېړنې ښیي چې د ډیموکراتیکو هېوادونو د ژوند شرایط د استبدادي نظامونو په پرتله ښه او ثابته وده لري. ځینې بېلګې دا دي:

ډیموکرات هېوادونه باثباته او د اټکل وړ اقتصادي وده لري.

ډیموکراسي د زده‌کړې کچه لوړه کوي. د ډیموکراسۍ په پیاوړې کېدو سره دولتونه د زده‌کړې بودیجه زیاتوي.

خلک په ډیموکراتیکو ټولنو کې ښه روغتیایي خدمتونه ترلاسه کوي. څېړنې ښیي چې کله یو هېواد ډیموکرات شي، په لسو کلونو کې د خلکو منځنی عمر درې سلنه زیاتیږي. ډیموکراسي د سولې او عدالت لپاره اړینه ده. ډیموکرات هېوادونه له یو بل سره نه جنګیږي او د کورنیو جګړو پېښې یې کمې لرې وي.

ډیموکرات هېوادونه د اقلیمي بدلون پر ضد زیات اقدامات کوي – د پرمختللو ډیموکراسیو سیاسي ژمنتیا نږدې ۲۰ سلنه لوړه ده د ترلو استبدادونو په پرتله.

ډیموکراسي د ښځو ګډون او استازیتوب زیاتوي او د ښځو حقونه پیاوړي کوي.

ډیموکرات هېوادونه د ټولنیزو ملاتړ نظامونو کې هم بریالي دي.

سرچینه :

*Democracy Report 2022: Autocratization Changing Nature?*, V-Dem Institute
https://www.v-dem.net/democracy_reports.html

## د بحث لپاره پوښتنې

له لاندې پوښتنو څخه هغه وټاکئ چې غواړئ په ډله کې پرې خبرې وکړئ:

•د ډیموکراسۍ او استبداد تعریفونه ولولئ. یو بل سره مرسته وکړئ چې دا مفاهیم ښه درک کړئ. ستاسو په نظر، ډیموکراسي څه ده او استبداد څه مانا لري؟

•په نړۍ کې د ډېرو هېوادونو ډیموکراسي شا ته روانه ده .ستاسو نظر څه دی؟

•ایا په سویډن کې هم د ډیموکراسۍ د کمېدو نښې شته؟ ایا داسې ډلې پېژنئ چې غواړي د رسنیو ازادي محدوده کړي یا د ټولنیز تنوع او ګوناګونتیا مخالفت کوي؟

•یوه مشهوره وینا ده:« د جګړې لومړۍ قرباني حقیقت وي.» که د یو هېواد خلک خبر نه شي چې په ریښتیا څه روان دي، لکه د جګړې په وخت کې، دا د ډیموکراسۍ لپاره څه مانا لري؟ کله چې رژیم تعیینوي چې څه ډول خبرې یا راپورونه خپرېږي، د خلکو پر ازادۍ څه اغېز کوي؟

د بې‌پولو خبریالانو د مطبوعاتو د ازادۍ شاخص پاڼه وګورئ. د بېلابېلو هېوادونو حالت پرتله کړئ. ستاسو نظر څه دی ، ولې ژورنالیستان په ډېرو هېوادونو کې له خطر سره مخ دي؟

•ایا هر څوک باید هر څه ووایي؟ د سویډن د بیان ازادۍ کوم محدودیتونه اوس شته؟ که دا ازادي نوره هم محدوده شي، څه به پېښ شي؟ د سویډن د اساسي قوانینو، په ځانګړي ډول د بیان د ازادۍ قانون، په اړه نور ولولئ.

•یو فعال کس ځنګه کولی شي د یو سازمان له لارې په سویډن کې د ډیموکراسی پیاوړتیا ته مرسته وکړي؟
او ځنګه کولی شو له هغو خلکو ملاتړ وکړو چې په نورو هېوادونو کې د ډیموکراسۍ لپاره مبارزه کوي؟

## د لوستلو لپاره سرچینې

د ډیموکراسۍ شاتګ د نړیوال انتخاباتي کال نښه ده ، مقاله له forskning.se
https://www.forskning.se/2024/03/07/demokratisk-tillbakagang-praglar-globalt-supervalar/

د روسيې د یرغل شالید پر اوکراین ، په SO-rummet کې ګڼ مقالې او ویډیوګانې شته.
https://www.so-rummet.se/content/bakgrunden-till-rysslands-invasion-av-ukraina

په تبعید کې د روسي رسنیو نامعلومه راتلونکې
https://www.reportrarutangranser.se/osaker-framtid-for-ryska-medier-i-exil/

د مطبوعاتو د ازادۍ شاخص
https://www.reportrarutangranser.se/pressfrihetsindex/

د بیان ازادۍ ځرنګوالی
https://www.youtube.com/watch?v=2nkLqq9einE

## د راتلونکې ټولنې پر لور

### له ښي او کیڼ لوري هاخوا

په سویډن کې سیاسي ګوندونه دوديز ډول د ښي–کیڼ (höger–vänster) پر یوه مقیاس اټکل کېږي. په دې مقیاس کې، محافظه‌کار ګوند (Moderaterna) په ښي لوري او کیڼ ګوند (Vänsterpartiet) په کیڼ لوري کې ځای لري. منځلاري ګوندونه (Liberalerna او (Centerpartiet عموماً په منځ کې موقعیت لري. دا مقیاس زیاتره د ګوندونو د اقتصادي نظرونو پر بنسټ ولاړ دی. د ښي لوري ګوندونه د کمو مالیاتو او د شخصي خدماتو لکه روغتیا ملاتړ کوي او غواړي بازار ازاد پرېښودل شي. خو د کیڼ لوري ګوندونه د لوړو مالیاتو او د عاید د برابرۍ ملاتړ کوي او باور لري چې دولت باید فعاله ونډه ولري.

په وروستیو کلونو کې ډېر کسان وایي چې دا دوديز ښي–کیڼ مقیاس نور د نننۍ سیاست لپاره بسنه نه کوي. نن د ډېرو رایه ورکوونکو د انتخاب بنسټ د ژوند طرز او هویت دی، نه یوازې اقتصادي سیاست. د بېلګې په توګه، یو څوک چې په کلي کې ژوند کوي، خپله کرهڼه کوي او ماشومان یې په یوه کوچني ښوونځي کې زده کړه کوي، د ورته ژوند لرونکو خلکو سره ځان نژدې احساسوي او د هماغه ارزښتونو ملاتړ کوونکي ګوند ته رایه ورکوي.

یوه بله طریقه چې د ګوندونو د ارزښتونو توپیر وښيي، د GAL–TAN مقیاس نومېږي.
GAL معنا لري *شنه، بدیله* او *لیبرال*.
TANمعنا لري *سنت، واک* او *ملیت پالنه* .

د بېلګې په توګه، د چاپېریال ګوند (Miljöpartiet) د GAL استازیتوب کوي او د سویډن دیموکراتان د.TAN
خو ستر ګوندونه لکه سوسیال دیموکراتان او محافظه‌کاران د دواړو اړخونو رایه ورکوونکي لري.

د دې پرېکړه چې موږ کوم ګوند ته رایه ورکوو، د ارزښتونو، د انسان د لیدلوري او د یو پر بل د باور له مخې ټاکل کېږي.که موږ یو بل ته بې‌باوره شو، ډیموکراسي هم زیانمنېږي. د یو سالم ډیموکراتیک نظام پر بنسټ باور د ټولنې د پرمختګ کلي ده.

## د نړۍ لپاره لید

موږ د راتلونکي لپاره کوم ډول نړۍ غواړو؟ د ملګرو ملتونو سازمان (FN) خپل لید د اجنډا ۲۰۳۰ (Agenda 2030) په نوم وړاندې کړی دی، چې په سپتمبر ۲۰۱۵ کې تصویب شو. دا یو نړیوال پلان دی چې د پرمختیایي موخو تر ۲۰۳۰ کال پورې د لاسته راوړلو هڅه کوي. د اجنډا ۲۰۳۰ درې بنسټیز هدفونه دا دي:

- د هر ډول فقر او لوږې له منځه وړل.
- د ځمکې د چاپېریال ساتنه له تخریب څخه.
- د سولې، عدالت، او له ویرې او تاوتریخوالي څخه د پاکو ټولنو جوړول.

هدف دا دی چې د نړۍ هېوادونه وکولای شي فقر له منځه یوسي، د انسانانو حقونه تضمین کړي، د ښځو او سړو برابري ترلاسه کړي، او د ځمکې ساتنه وکړي.

د اجنډا ۲۰۳۰ یو بنسټیز اصل دا دی چې ټول انسانان یو شان ارزښت لري.
هر څوک حق لري چې ښه ژوند ولري، او موږ باید یو له بله سره مرسته وکړو څو دا موخې ته ورسېږو.
سویډن د هغو هېوادونو له ډلې دی چې د اجنډا ۲۰۳۰ د ملګرو ملتونو د موخو ملاتړ کوي.

## موږ زغم لرونکي کېږو

نن ورځ په ډېرو هېوادونو کې د سیاست بنسټ د د انسانانو د برابري مفکوره نه ده، بلکې نورې نظریې حاکمې دي. هغه ګوندونه چې ورته پوپولیستي ګوندونه ویل کېږي، د خلکو له ویرې او بېباورۍ ګټه اخلي. افراطي ښيلوري ډلې د ټولنیز تنوع (کلتورونه، مهاجر، دینونه) په توګه یو خطر ګڼي. په دې فضا کې ډېری کسان پر دې باور دي چې ډیموکراسي نور د ستونزو حل نه شي کولی، او پر ځای یې غواړي چې یو استبدادي مشر یوازې پرېکړې وکړي.

که موږ یوازې د ورځپاڼو سرلیکونه یا د ټولنیزو شبکو بحثونه ولولو، کېدای شي د ټولنې د راتلونکي په اړه نا امیده شو. خو حقیقت دا دی چې نړۍ په ډېرو برخو کې ښه شوې ده، خلک اوږده او ښه ژوند کوي. د هغو کسانو شمېر کمېږي چې په شدیده بېوزلۍ کې ژوند کوي. د اوږدمهاله نړیوالو څېړنو له مخې، زغم او مدارا د هرې نوې نسل سره زیاتېږي.ډېری خلک اوس باور لري چې ټول انسانان باید یو شان فرصتونه ولري، او دا چې تبعیض د جنس یا د پوستکي رنګ له مخې ناسم دی. په نړیواله کچه یو حرکت روان دی چې خلک نور نژادپالنه نه مني.

## کومې نظریې باید مشري وکړي؟

موږ مخکې هم یادونه کړې چې د هر انسان رایه ارزښت لري. کله چې موږ په ټاکنو کې رایه ورکوو، دا معنا لري چې موږ په دې برخه کې برخه اخلو چې کومې مفکورې د راتلونکي سیاست لورى ټاکي. ایا راتلونکی ټولنه باید پر بېباورۍ او ویره جوړه وي؟ ایا موږ باید له خپلو ډیموکراتیکو حقونو لاس واخلو او پرېکړې یوازې یو زورور مشر ته وسپارو؟ که نه، ایا موږ غواړو داسې ټولنه جوړه کړو چې پر باور، یووالي او د ټولو د ښه ژوند لپاره هڅو ولاړه وي ، په داسې نړۍ کې چې موږ یې راتلونکو نسلونو ته هم ساتو.

## د بحث پوښتنې

له لاندې پوښتنو څخه هغه وټاکئ چې غواړئ پرې خبرې وکړئ:

- د اجنډا ۲۰۳۰ نړیوال هدفونه ولولئ. ستاسو نظر څه دی؟
https://www.globalamalen.se/

- په ټولنه کې کوم بدلونونه ضروري دي تر څو دې هدفونو ته ورسېږو؟ ستاسو د راتلونکي لید څه دی؟

JAG RÖSTAR! FÖR DEMOKRATIN

•ایا تاسو فکر کوئ چې د سیاسي ګوندونو پروګرامونه د اجنډا ۲۰۳۰ له موخو سره یو شان لوری لري؟

•ایا تاسو چمتو یاست چې د ډیموکراسی د پیاوړتیا لپاره فعال شئ؟ څنګه؟

•ستاسو نظر د GAL–TANد تشریح په اړه څه دی؟
که زیات خلک هغو ګوندونو ته رایه ورکړي چې د ) TANسنت، واک، ملي پالنه (ارزښتونه لري، پایلې به څه وي؟
او که د ) GALشنه، بدیله، لیبرال (ارزښتونو ملاتړ وکړي، دا به څه اغېز ولري؟

## د لوستلو لپاره سرچینې

د اجنډا ۲۰۳۰ (Agenda 2030) په اړه معلومات
د باور (تلیت) په اړه څېړنې – د SOM انستیتیوټ
راپور د سویډن د دیموکراتانو د ګوند د نظریې په اړه
مقاله د زغم په اړه
مقاله د نړۍ د لا زیاتو ازادمنو ارزښتونو په لور پرمختګ په اړه
مقاله د ټولنې د زیات بدبینۍ د لاملونو او پایلو په اړه

## پای او ځان ته کتنه

په پای کې، د دې زده‌کړیزې کړۍ هغه څه لنډیز کړئ چې تاسو ترسره کړي او هغه موضوعات چې پرې مو بحث کړی.
کولی شئ خپلې شخصي اندېښنې او فکرونه هم ور اضافه کړئ ،څه مو لیدلي، احساس کړي او څنګه مو د ډلې ګډ کار تجربه کړی.

بیا هر ګډونوال ته فرصت ورکړئ چې لاندې پوښتنو ته فکر وکړي:

•کوم نوي فکرونه یا نظرونه دې ترلاسه کړل؟
•څه شی پر تا تر ټولو زیات اغېز وکړ؟
•له دې تجربې څخه څه درسره اخلې؟

یو ځل د دایرې په بڼه له ټولو وپوښتئ او هر څوک دې پرته له مداخلې خپله خبره وکړي.
اوس چې کړی پای ته رسېدلې، ښه ده چې د ټولو نظرونه او احساسات راټول کړئ.

کولی شئ یوه لیکلې ارزونه هم ترسره کړئ، چې هر ګډونوال به پکې دغو پوښتنو ته ځوابونه ولیکي، او بیا یې خپل د NBVاستازي ته وسپارئ.

د ارزونې پوښتنې:

•څه شی ښه و؟
•څه شی لږ ښه و؟
•څنګه کولی شو دا کار په راتلونکي کې دوامدار یا لا ښه کړو؟